منصوره! وه منصوره! پاڅه چې لمونځ قضا کېږي.

سترګې مې وغوړولې، مور مې وه، ساعت ته مې وکتل څلور نیمې بجې وې، له ځایه پاسېدم، اودس مې وکړ، او له لمانځه وروسته مې لا لاسونه د دعا لپاره لپه نیولي و چې مور مې بیا را غږ کړ:

- منصوره څویه بوره خلاصه شوې....
- چې بوره خلاصه شوې وه، نو پرون مې چې پلار بازار ته تلو ورته به دې ویلي وو، کنه!!!!
- مور مې، چې په نغري کې دلرګیو پاتې شونو ته پوکي ورکول، وویل:
- هېر مې شو، خو ته دا پیسې واخله او لاړشه بوره راوړه.

پیسې مې ترې واخستې، دروازې ته د رسېدو سره مې په لرګینې دروازې ځړېدلي زنځیرته لاس غزولو چې دروازه وټکېده، دروازه مې خلاصه کړه، پلوشه بې له دې چې څه ووایي، له خندا په ډکه خوله، ځنګزنه کور ته ننوته. مور مې د پلوشې په لېدو وارخطا او بې واره پوښتنې شروع کړې......

- لورې سترې مشې، خیریت دی؟ څنګه داسې بې وخته راغلې؟
- پلوشه چې لا هم هغسې یې خوله له خندا ډکه وه، په ناز وویل: نا ترورې خیر و خیریت دی، د خوشحالۍ خبر مې درته راوړی ، خو لومړی شېریني را، بیا یې درته وایم.

مورمې د ټیکري به پلو کې غوټه کړی د شلو لوټ را خلاص کړ او پلوشې ته یې ونیو، پلوشې دشلو لوټ واخست، مسکی شوه په لږ څه لوړ غږ یې وویل: ترورې کمال دې موکړده وکړله، مور مې لږ څه حیرانه شوه ویویل:

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کمال جان ته مو کوژده وکړه!!! پلوشې په لوړ غږ زما د مور د خبرو په تایید هو وویل. پلار مې چې په دروازه را ننوتو مور مې پرې ورغږ کړ: وه سړیه راشه چې پلوشه څه وایي، کمال ته یې کوژده وکړه، پلار مې چې د تسبو یوه یوه دانه یې اړوله، په ګڼه ګیره لاس را تېرکړ او مسکی شو.
- ښه ډېر ښه، لورې مبارک دې وي درته، خدای دې درته برکتي کړي.

زه هم ډېر خوشحاله شوم له ځان سره مې وویل کماله زه به درسره ګورم، پټ پټ کارونه کوه، مور مې را غږ کړ:

- منصوره ته لا ولاړ یې، زر لاړشه، بیا به وایې، چې مکتب ناوخته شوی، دا دی، هاغه دی.

بې له دې چې څه ووایم له کوره ووتم او د ګُلي کاکا د دکان په لور وخوځېدم، د ګُلي کاکا له دکانه مې بوره واخسته او د کور په لاره سم شوم، د چای له څښلو وروسته مې مهال ویش ته په کتو کتابونه جوړ کړل اول ساعت دري وو، پام مې شو، چې د دري کورنۍ وظیفه مې نه ده لیکلې، ساعت ته مې وکتل، اووه نیمې بجې وې، دا چې رسمیات په اته نیمې شروع کېدل، نو زر زر مې کورنۍ وظیفه ولیکله او له کوره د مکتب په نیت ووتم، ددې لپاره چې شبیر له ځانه سره واخلم د بر کلي په لاره سم شوم، خو د شبیر دوي له کوره راته پته ولګېده چې شبیر وختي وتی دی، ساعت ته مې پام شو اووه دقیقې پاتې وې اته نیمو ته. مزل مې یوڅه ګړندی کړ، اته او پنځه دیرش وې چې د لېسې په دروازه ننوتم، په چټکۍ د صنف په لور لاړم، له ډېرې وارخطایۍ مې د ټولګي په دروازه کې کتابونه له لاسه ولوېدل، زما ددې وضعیت په لیدو ټول ټولګیوال په خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول، استاذ پرې چغه کړه، بې حياوو زه درته ولاړ يم او تاسې خاندۍ بيا يې ماته مخ را واړو:

- منصوره ته د مسووليت په نوم څه شی پېژنې کنه؟ د صنف اول نمره يې ته بايد له ټولو مخکې په صنف کې حاضر اوسې.
- استاذه بخښنه غواړم ناوخته شو، بيا به داسې نه کېږي، استاذ هم د سر په اشاره راته د کيناستو وويل...

لاړم د صداقت په خوا کې په خالي څوکۍ کيناستم، استاذ درس خلاص کړ، د درس په هکله يې د شاګردانو نظريات او پوښتنې واورېدل، په وار سره يې پوښتنو ته ځوابونه وويل او له ټولګي څخه ووت، د استاذ د وتلو سره سم په څو شېبو کې د ټولګي خاموشه فضا د هلکانو خندا او شور ونيوله، پرلپسې ساعتونه تېر شو، وروستی ساعت خالي و، زر تېر شو د مکتب د رخصتۍ زنګ د وهل کېدو سره، د ليسې لويه دروازه د شاګردانو په مخ خلاصه شوه او ټول د خپلو کورونو په لور روان شول. په لار راسره زما يو ټولګيوال جمشيد ملګری شو، په ټوله لار مو سره ښې ډېرې غورې وکړې، په خبرو خبرو کلي ته ورسېدو، له جمشېده مې خدای په اماني واخسته او په ګړنديو قدمونو مې د کور لار را لنډه کړه، دروازه مې وټکوله، وړې خور مې دروازه خلاصه کړه، لاس يې را وغزو:

- لالا سترې مشې او کتابونه يې زما له لاسه واخستل، مور مې هم سترې مشي سره وويل، منصوره لاسونه ووينځه ډوډۍ تياره ده.

وړې خور مې پيتاوې ته سترنجۍ هواره کړه، ما لاسونه ووينځل او ډوډۍ ته کيناستم، مور ته مې په خندا وويل:

- مورې خلکوته په اوړي کې بنډۍ نه رسېږي او ته يې په ژمي کې خورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په خندا شوه دا برکتونه خو به منې. ښه په مړه ګېډه مې ډوډۍ وخوړله او پاڅېدم، مور مې وویل منصوره تا خو هیڅ ونه خوړل!
- بس دی مورې موړ شوم، ځم شبیر اخلم، ځو درس ته!

په همدې خبرو کې وم،چې دروازه وټکېده، خلاصه مې کړه، شبیر وو، په خندا مې ورته وویل، همدا اوس مې یادولې، ځه ښه شوه چې راغلې.

- شبیر موسکی شو، سمه ده، سمه ده، ورشه کتابونه دې راواخله، چې ناوخته کېږي.
- چای به وڅښو بیا به ځو!!
- هرڅه مې کړي، بس ته زر کوه.

د سمه ده په ویلو کور ته ننوتم، کتابونه مې را واخستل، او د خپل ځای په لور، چې له ګودره یو څه فاصله کې د دنګ چنار لاندې کوچنۍ دېره غوندې وه او د کلي شوخو هلکانو به ورته دیدن چوک ویلو، وخوځېدو. زه او شبیر به اکثره همدې ځای ته د درس لپاره تلو، خو جمشید به بیا په عذابولو او ویل به یې چې ګوره منصوره تاسې خوهلته ځئ، خو کومه ورځ مونږ ته کار ونه ګورئ.

تر یو څه وخت پورې مو درس وویلو، شېبه وروسته شبیر وویل:

- منصوره پوهېږې؟ پدې ورځو کې دا هرڅه راته نوي نوي ښکاري، په هرڅه کې یو نوی ایجاد شوی رنګ وینم، دا سې احساسوم چې کاینات راباندې مهربانه شوی، رنګونه را ورروي او زه لکه جنتي چې د دنیا له ټولو کړاوونو څخه ستړی شي، له یو څه درد زغملو وروسته خپل روح د کایناتو څښتن ته وسپاري او مهربانه څښتن یې ددې ټولو دردونو او کړاوونو په بدل کې د جنتونو په دروازه ننباسې او جنتي داسې احساسوي چې ګوندې هېڅ درد او کړاو یې نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلی. منصوره! کاشش!! طبیعت په مونږ تل همداسې مهربانه وای، په مونږ یې تل همداسې د رنګونو دباران د منظر تماشه کولای.

- په حیرانۍ مې د شبیرخبرو ته غوږ نیولی و، موسکی شوم، شبیره! څه شوي، چې نن داسې د طبیعت په ثناء بوخت یې او طبیعت ستایې؟ ورو مې له غوږه کش کړ، نه چې ورور مې مئین شوی!؟ څوک ده، هغه خوشبخته چې زما شبیر خوښه کړې ده؟
- مسکی شو، د همدې کلي ده، خو صبر چې راشي، نو به یې وینې!

شبیر به یوه شیبه کتاب او یوه شېبه د ملک صیب د پټیو ترمنځ د ګودر په لور تللې لارې ته کتل، لږ وروسته د ملک صیب په پټیو کې د ګودر په لور د تلونکو نجونو قطار را ښکاره شو، نجونې به لکه د زانو کله په قطار او کله به یې قطارونه مات کړل او لکه د شلیدلي هار د غمیو په شان به وشیندل شوې، د نجونو قطار چې مونږ ته یو څه نزدې شو، نو شبیر مې په څنګل وواهه، وایه کنه سړیه، څنګه غلی یې؟
شبیر چې په خوله یې هېڅ نه ویل، چوپه خوله یې لاس دیوې نجلۍ په لور وغزلو، نسرین وه، هغه نسرین چې دکلي ډېرو زلمو یې د وصل خوبونه لیدل، دښکلا ستاینه یې د غم ښادۍ په محفلونو کې د کلیوالو ښځو عادت ګرځېدلی وو او زړو ښځو به یې سترګې د ښاپیریو سترګې بللې.
مور مې یوه ورځ کیسه کوله چې نسرین په یو واده کې کوم سپین ږیري لیدلې وه، نو د خپلې پېغلې لور په مخکې یې ویلي وو، چې لورې دادی حسن!! پوره لس لکه روپۍ پې شمارم که رایې کړي.
د نجونو قطار د ګودر په طرف لاړ، ورو ورو پنا کېده، شبیر ته مې پام شو، چې سترګې یې هم هغسې د نجونو په قطار ګنډلې وې او د صاحب شاه صابر دا بیت یې زمزمه کاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې په زړه او ذهن داسې را خوره ده مينه
اوس چـــې د چـــا سره خــــبره کوم دا کومه

د شبير په اوږه مې لاس کېښود.

- شبيره! جتکه يې وخوړه
- ها!
- ښه يې؟
- هو هو ښه يم، ښه يم.

په خندا شوم، ياره دومره جدي کېږه هم مه، هر څه به سم شي، سر يې وخوځو، مسکی شو.

يوه شيبه دواړه خاموشه ناست وو، د مازيگر اذان يې وکړ، شبير ته مې وويل چې ځو ...

له ځايه پاڅېدو او کرار کرار وخوځېدو، د کلي لوی جومات ته مو ځان ورساوه، د جمې وخت وو، لاړو او په لس کسيز صف کې مو اضافه والی وکړ. جمه مو وکړه، له جوماته راووتو، له شبيره مې اجازه واخسته او کور ته لاړم، کور کې مې مور خفه وه، د خفگان د علت پوښتنه مې ترې وکړه، ويې ويل؛ پلار دې زنگ کړی و چې مريض دی او په شفا خانه کې دی، مور مې ډېر زيات خفه وه، مور مې په حقه وه د هغې خفگان پر ځای وو، ځکه چې پلار مې د شکرې ناروغي درلوده. د مور د تسلی لپاره مې وويل:

- مورې هسې خفگان مه کوه، پلار مې ښه دی، بس هسې څه د سينې تکليف يا زکام به وي دهغې لپاره به ډاکټر ته تللی وي او که بيا دې هم تسلي نه کېږي؛ نو زه به لاړشم، را به يې ولم، جامې مې تيارې که! همدا اوس ځم.
- نه نه اوس مه ځه، سبا به لاړشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه سمه ده موري، خو ته دا خفګان مېګان پرېده، او ها هغه ورمه څه شوه؟
- همدلته ده، هغه همسایه جینی راغلې ده، د هغې سره ناسته ده، دا چې د مور پام مې بدل کړم، نو په کراره یې خواته ور نزدې شوم، ومې ویل:
- ښایسته ده، که بدرنګه؟
- مور مې د خپل ټیکري پیڅکه په سترګو را تیره کړه، نه کوم درته کوژده! بېغمه شه! او پدې چلونو خو یې بیخي هم نه! دواړو وخندل او زه ترې خپلې خونې ته لاړم.

* * *

سهار اووه بجې وې، له موره مې خدای په اماني واخسته او د ښار په نیت له کوره ووتم، اسمان وریځ وو، میده میده باران ورېده، هډه کې غواګۍ موټر ته وختم، زما د ناستې سره سم یو بل هلک هم را وختو زما تر څنګ په مخکني سیټ کې کېناست، په شاته سیټ کې دوه ګېره خریلي، یو ملا ډوله سړی او یو ماشوم ناست وو، موټر وان موټر ته راوختو، موټر یې چالان کړ نصوار یې تو کړل او په کراره یې وویل: یو دعا د خېر وکړئ.

موټر ورو ورو لار را لنډوله، شاته سیټ کې د ناستو خلکو ښه ساعت تېر و، کله به یوه او کله به یې په بله موضوع بحث شروع کړ، ما مې په خوا کې ناست ملګري ته وکتل، ورو مې وویل ښه یې، تندی یې تروش کړ:

- زه ښه یم، خو که ته دې دا پښه لرې کړې، نو بېخي به ښه شم.

خپلې پښې ته مې پام شو، چې د هغې په پښه مې اېښې، نه پوهېږم چې له کله نه مې پښه د هغې بې چاره په پښه ایښې وه. زر مې پښه لرې کړه او یوه څه په شرمنده لهجې مې ورو وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وبښه یاره
- مسکی شو، هېڅ خبره نشته، چرته ځې؟
- جلال اباد ته!
- هغه خو ماته پته ده، چې جلال اباد ته ځې، خو په جلال اباد کې کوم ځای ته!
- نور خو نه یم بلد، ځکه چې ښار ته دومره تګ راتګ نلرم او بیا مې ورته ټوله کیسه وکړه چې پلار مې هلته په ښار کې وظیفه لري انجینر دی، زنګ یې کړی وو، چې مریض دی، نو دا چې ورته مو سودا شوه، پدې خاطر ورپسې ځم، که ډېر په عذ اب وي، نو کور ته یې راولم.
- ښا ښا! لاس یې را اوږد کړ، زما نوم پروېز دی، د کونړ پوهنتون د اقتصاد پوهنځي څخه فارغ او اوس په جلال اباد کې په یو شخصي بانک کې (Cashier) خزانه دار یم.
- ښه ډېر ښه! زما نوم منصور دی، دولسم ټولګي کې یم، سږ کال له خیره فارغېږم.
- مسکی شو، ډېر ښه!د پوهنتون څه اراده لرې که نه؟
- هو له خیره! که نصیب مو وو نو، ولې نه!

موټروان ناڅاپه په بریک پښه ټینګه کړه، سټیرینګ یې د پټي خواته تاو کړ، د موټر په مخ کې د مدرسې ماشومان چې له مدرسې په ناڅاپي ډول راوتي وو، هک پک وارخطا ولاړ وو. ګیره خریلي سړي په غوسه وویل: د غوا زامنو وطن خو مو در په دره کړ او نزدې وه، چې مونږ مو وژلي وای، تاسو خو هېڅ بلا نه وهي!! بس خو د تروریزم او وحشت خپرولو هڅې یې را جوړې کړې دي، بیا چېغې وهي چې پلانکی ترهګر را لېږي او بېستانکی ترهګر را لېږي، هېڅوک درته ترهګر نه را لېږي، بلکی په کور دننه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته روزي، کوم چې تاسو د دین هڅې بولی، دا په اصل کې د وحشت خپرولو هڅې دي، ملا ډوله سړي يې په خوله کې خبره ور وچه کړه.

- په کراره سړيه! ته څه لګيا يې، ماشومان دي، او پاتې شوه د وطن خبره نو دا وطن دين، مدرسې، جومات، قران او د قران لوستونکو نه دی وران کړی، بلکې له دينه او قرانه نا خبرو وران کړی، دا کوم د قران لوستونکي طالبان، چې ته ورته ترهګر وايې دا په اصل کې هغه څوک دي چې مدرسې ته د تګ، را تګ په وخت ورته فرشتې خپلې وزرې غوړوي، دا هغه متعلمين دي، چې پيغمبر(ص) خپل وارثين بللي، او دا ځای چې تا ورته د تروريزم د هڅې نوم ورکړ، د هغه تعليم د خپرولو ځای دی، چې د امن کتاب او د پيغمبر(ص) ستره معجزه قران عظيم الشان پکې تدريسېږي، دا ځای د هغه تعليم د خپرولو ځای دی، چې متعلم د (والصلح خير) او ( انما المومنون اخوة فاصلحو بين اخويکم وتقوالله لعلکم ترحمون) درس زده کوي، ته څه فکر کوې، دا کوم وحشت چې پدې وطن کې روان دی، مونږ ورته خوشحاله يو؟ نه، هېڅکله نه!! مونږ له تاسو ډېر ځورېږو، تاسو هم ملامته نه ياستئ، بس د خلکو نه منفي تبليغات واورئ او خپله د خپل دين او اسلامي مقدساتو په سپکاوي لاس پورې کړئ.

ګيره خريلي سړي چې په خوله کې يې لاړې وچې وې، بخښنه وغوښته. شيبه وروسته په ښار کې وو، له موټره ښکته شو، د څنګ ملګري مې وويل:

- څه کوې؟
- وُلي مې پورته واچول، پلار پسې مې ځم، مسکی شو، څنګه يې پيدا کوې!؟ زنګ ورته ووهه چې چرته دی، نو پيدا کول به يې درته اسانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جېبه مې موبایل را وویست، د پلار شمېرې ته مې زنګ وکړ

- لالا اورې، زه یم منصور، چرته یې؟
- له هغې خوا غږ، چې زما د پلار نه وو، راغی، منصوره پلار دې ښه دی، راوستی مو دی اطاق کې یو، چرته یې ته؟
- زه دلته په ښار کې یم، تاسو چرته یاستئ؟
- ښنګ کې دې څوک شته؟ ته ورکه موبایل چې ددې ځای ادرس ورکم.

موبایل مې پروېز ته ورکړ. پروېز څو شېبې موبایل غوږ ته نیولی و او بیا راکړ او راته یې وویل چې راځه راپسې، زه هم روان شوم، پروېز ویل: دا داسې ښار دی، چې ډېری خلک ورته له ډېرو هیلو او امیدونو سره راشي، د خپلو خوبونو د رښتیا کولو په تمه ډېرې سختۍ او مشکلات وګالي، ځینې چې بخت یې د سرو وي، خوبونه یې رښتیا شي او د تل لپاره ددې ښار شي، خو ځینې چې بخت یې کوټه وي له هرڅه مایوسه، ددې ښار په کوڅو کې د خپل ورک منزل په لټه ورځې شپې سبا کوي او د دیاړي کولو لپاره هم د واسطو په لټه کې وي. په خبرو خبرو کې پروېز د یو بلند منزله ودانۍ په لور اشاره وکړه، همدا تعمیر دی راځه! د ودانۍ په زینو ور سم شو په دریم منزل کې د یو اتاق دروازه مو وټکوله، ځوان هلک چې زوړ جمپر یې په غاړه وو، دروازه خلاصه کړه، پلار مې مخامخ په بخارۍ کې لرګي سمول، اطاق ته دننه شو، ستړي مشي مو وکړه، کېناستم، پرویز ته مې وویل ته به راسره چای وڅښې بیا به ځې، هغه ست وکړ خو پلار مې هم ورته خبره تکرار کړه، پرویز هم کیناست، پلار مې وویل:

- منصوره که زه پوه وای، نو له راتګه مې منع کولې، خو څه خیر! ښنګه یې کور ته خیر وو او دا ځوان دې را معرفي نه کړ!؟
- پلاره دا پروېز دی، ددې ځای په پیدا کولو کې یې راسره مرسته وکړه. پلار مې پروېز مخاطب کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مننه ځویه!
- نه کاکا دې کې د منني څه خبره ده، دا خو زما فرض وو.

پروېز چې د چایو پیاله يې کېښوده وویل: ښه کاکا اوس به ماته اجازه راکئ، زه ځم، پلار مې یو ځل بیا له پروېزه مننه وکړه، پرویز رخصت واخست او لاړ. پلار مې غږ وکړ.

- نیازالدینه ته راشه!
- هم هغه هلک چې دروازه يې را خلاصه کړې وه، راغی، ها انجینر صیب!
- نیازالدینه هغه زما کالي را جوړ که زه دفتره پورې ځم، چې له هغه ځایه راغلم، نو لاړ به شو کور ته!
- خو انجینر صیب تاسو خو ابل پرون راغلئ او اوس.....
- پلار مې په خندا وویل: رئیس صیب محترم ځوی مې راپسې راغلی دی او چې ما بو نه ځي، زما نه بغیر خو دا د تلو والا نه دی.
- نیاز الدین د سمه ده په ویلو له اتاقه ووتو. پلار مې وویل:
- ځویه ته همدلته اوسه تلویزون هم شته، مجلې هم هلته په میز پرتې دي او که څه خوراک څښاک ته دې زړه کېده، نو نیاز الدین ته ووایه درته به يې له بازاره راوړي، زه دفتره پورې ځم، چې راغلم، نو بیا به لاړ شو.

له جیبه يې موبایل را وویست، غوږ ته يې ونیو، چرته يې؟ سمه ده زر راشه زه تیار یم، ځویه زه ځم، ډریور راغلی، ته زړه تنګ نه کړې. پلار مې لاړو، نیاز الدین په مینه ناکه لهجه وویل:

- منصور لالا ډېره ووهه، کمپله کش کړه، چې یخ دی، د تلویزون ریموټ يې راکړ، واخله، چې څه دې خوښ وي هم هغه وګوره، زه بازاره پورې ځم، چې د غرمې د پاره یو څه راوړم. ورته مسکی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لاړ او زه یواځې په اتاق کې پاتې شوم، په تلویزون کې مې چینلې بدلولې را بدلولې، په یو چینل کې هندي فلم لګیدلی وو، هم هغه مې پرېښود او کرار ورته ډډه شوم.

څه د پاسه دوه بجې وې، چې پلار مې راغی، له هغه ځایه ووتو، پلار مې وویل ته راځه چې په ښار کې دې لږ وګرځوم او څه نا څه سودا به هم واخلو، پلار مې مخکې او زه ورپسې، ښار و، رنګ رنګ خلک پکې وو، اکثره په تورو حجابونو کې ښځې او جینکۍ چې یواځې سترګې به یې ښکارېدې ګرځېدې، ماته خو جالبه دا وه، چې ما به کومې جینۍ ته ور وکتل نو هغې به هم همداسې په سترګو کې سترګې را خخې کړې، تر هغې چې ما سترګې وا نه ړولې، نو هغې به نه اړولې، زړه کې مې تېر شو، چې دا څومره شخ سترګې جینکۍ دي، کلي کې خو، چې جینۍ په سل متری کې هلک وګوري، نو له واره یې لاره بدله کړې وي، پلار مې را غبړ کړ منصوره څه سوچ کې؟

- هېڅ! هسې دا د ښار خلک د کلي سره څومره فرق لري! کنه لالا؟
- هو ځویه دا ښار دی، اکثره تعلیم یافته خلک پکې اوسېږي او ژوند پکې د کلي په نسبت ډېر پرمختګ کړی دی، ته راشه دا مالټې ډېرې ښایسته دي، یو من ترې واخلو.

مالټې مو واخستې، سیده د موټرو د هډې په لور وخوځېدو. په یو موټر کې کیناستو، چې مونږ پکې اولني کسان وو، خو ښه و ژر ډک شو، په لاره کې یو څه رش وو، ماښام اذانونه یې د عبدالخیلو نومې ساحه وکړل، هم هلته موټروان موټر یو اړخ ته اودرولو ښکته شو لمونځونه مو وکړل، موټر واپس حرکت وکړ، په فضا کې د تیارې ترڅنګ خاموشي خپره وه، سپوږمۍ لکه سرداره د ستورو په منځ کې ولاړه وه، موټر ورو ورو لار را لنډوله، زه په شاته سیټ کې د شیشې خوا کې ناست ووم، شیشه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته کړه، يخ باد را ننوت، باد لکه ماشوم چې د ټال سره لوبې کوي، همداسې زما په مخ يې وېښتان دانه وانه شيندل، ما به د لاس په ګوتو را جوړ کړل، باد به بيا دانه وانه وشيندل، نو هغه بيت مې ځان سره ورو زمزمه کړ چې

تا غــوړولې او شـمال به خـــورولې زلـفې
زه له مجبورې د هوا په لار کې اودرېدمه

ځان سره موسکی شوم، شيشه مې بېرته پورته کړه، ويښته مې را جوړ کړل، په خوا کې مې ناست زوړ سړي ته پام شوم چې حيران يې را کتل، يو څه شرمنده شوم، سترګې مې ترې واړول او بيا له ځان سره ورو وموسېدم. موټر د يو پلچک تر څنګ اودرېدو، زه او پلار مې ښکته شو، پلار مې پيسې ورکړې، سوړ باد مې بدن ورېږدولو، پلار مې پټو له ځانه تاو کړ، له لږ مزل وروسته د کور د دروازې مخ ته وو، دروازه مې وټکوله، د لاسې څراغ رڼا شوه.

- څوک يې؟
- مورې زه يم منصور دروازه خلاصه کړه. مور مې په سر ښکل کړم، ځويه په خير راغلئ، پلار مې په شوخۍ وويل:
- لږ خو مونږ خوارانو ته هم سترې مشي وکړه کنه! مور مې وويل؛
- ته خو رک روغ يې او په مونږ دې قيامت تېر کړ، منصور بې چاره مې هسې درپسې لا لهانده کړ. په خبرو کې مې ځان ور وغورځو او هو مورې پرېږدئ دا ګيلې، يخ دی، ځئ چې کوټې ته لاړ شو، نورې خبرې به هلته کوو. کوټې ته ننوتو، وړه خور مې او پلوشه د انګيټۍ( بخارۍ) په خوا کې ناست وو، زمونږ په لېدو را پاڅېدل، سترې مشي يې راته وکړه، وړمې د مالټو خلته زما له لاسه واخسته، پلوشې زما د پلار لاسونه ښکل کړل، ورېره مې راغلې ده، پلوشه مې په پلار ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرانه وه، بس هر وخت به يې ويل( که پلوشه د خپل د ماما د ځوې په نوم نه وای نو ما به وخته منصور جان ته کړې وه) .

* * *

سترګې مې مږلې، له اتاقه ووتم، پلار مې راته یو څه په تُنده لهجه وويل:

- لمونځ دې وخوړو!!
- لالا چا پا نه ځولم او زما پام ونه شو...........
- څه!! سل غږونه خو مې درته وکړل او ته وايې، چې چا پا نه ځولم، مخ لاس وينځه، چای تيار دی.

چای مې وڅښلو، بهر ووتم د کلي مخ کې د پټو په پولو مې يوه شېبه قدم وواهه، فکر مې شو چې، امتحانونه هم را په سر دي، سبا بله ورځ به تقسيم اوقات ورکړي، بېرته د کور په لور روان شوم، پدې نيت چې، کتاب به واخلم او مطالعه به وکړم. دکور دروازې ته نزدې شوم، غوښتل مې چې دروازه خلاصه کړم چې په تېزۍ دروازه خلاصه شوه، پلوشه وه، زما په ليدو يو څه ټکنۍ شوه، خو ما ورغږ کړ، راځه راځه پردی نه يم، د تره ځوې دې يم.
ورو يې وويل: ماسره مه غږېږه، زه درنه خفه يم!

- ولې خفه يې، ما څه کړي؟
- ښار ته لاړې او ماته دې هېڅ را نه وړل او بله داچې هېڅ زما پوښتنه هم نه کوې.
- په ټوکو مې وويل: کينو مې درته راوړي وو کنه! په غوسه شوه، شونډې يې په غاښونو وچېچل، په اننګو کې يې د غوسې له وجې سرخي را

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتوکېده، له پښې یې چپلکه را وویسته او کلک یې په ملا وویشتم، ما مې ملا مړله، چپلکه مې را پورته کړه او په خندا مې وویل:

- راځه اوس یې واخله، مخ مې واړو او روان شوم، په زاریو یې پیل وکړ، ومې ویل دلته راشه! بیا یې درکوم، خواته مې راغله، لاس یې وغزو
- راکه!
- نه نو! دومره په اسانه خو یې نه درکوم، غوړونه ونیسه، شابه!
- خیر دی، کنه! راکه څوک به راشي! روان شوم.
- سمه ده، چې غوړونه نه نیسې، نو زه هم لاړم، په اوږه یې له شا طرفه لاس را کېښود
- سمه ده، سمه ده، غوږونه نیسم.

مخ مې ور واړو، په دواړه لاسو یې دواړه غوږونه نیولي وو، ما چې ور وکتل، نو پوزه یې بوڅه کړه، موسکی شوه، اوس خو راکه کنه! هک پک ووم، بیخي بې حسه او بې هوشه ووم، په سترګو کې مې ورته سترګې خخې کړې وې، د اوږدو بڼو یوه یوه دانه مې داسې له نظره تېروله لکه شپون چې په ماښام رمه شپاله ته راوړي او یوه یوه دانه شماري، بیا موسکی شوه، راکه!

- څه!
- چپلکه، وی!! څوک به راشي، چپلکه مې ورته ونیوه، ورو مې وویل
- پلوشې یوه خبره!
- ووایه!
- مینه درسره لرم.............
- څه!!!!!!!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هېڅ، هېڅ هسې طبيعت مې خراب دی، روان شوم، پلوشې په کراره را غږ کړ .

- څه دې ووېل، خير دی ته يې يو ځل بيا ووايه
- مخ مې واړو، ګونګ يې په مخکې ولاړ ووم، پلوشه يو څه را نزدې شوه او په پوښتونکي نظر يې راته کتل ته وا د هغه شاعر خبره يې کوله چې

د خاموشۍ ګڼې معنې وي شونډې زر پرانيزه
که اراده دې د الفت وي، نو اظهار به کــوې

هغه لاړه، زه هک پک حېران ولاړ وم، چې دا هرڅه، څه وشو او څنګه وشو!؟؟

* * *

د پنجشنبې په سهار مې ټولګيوال صداقت زنګ را وواهه، ويل يې، چې نګران زنګ وهلی و، تقسيم اوقات ورکوي، لاړ به شو، تقسيم اوقات به واخلو. مکتب ته لاړم، نور ملګري مې هم راغلي وو، نګران تقسيم اوقات يې راوړ، ماته يې راکړ
- واخله منصوره دې هلکانو ته يې ووايه، چې ويې ليکي.
تقسيم اوقات مو واخستو او له هغه ځايه د صداقت دوي دېرې ته لاړو، ناست دلته وم، خو فکر مې ټول هغه ورځني کار ته وو، خدای شته زه په خپل کړي اظهار پښېمانه هم ووم، ځکه چې پلوشه د بل چا په نوم وه او ماته نه وه پکار چې داسې کار مې کړی وای، خو د پلوشې په واپسۍ کې، د انکار پر ځای، رضايت ښودلو بېخي زيات حيرانه کړم. هلته يوه شېبه ناست ووم، له ملګرو مې اجازه واخسته او کور ته لاړم، لومړۍ ازموينه مې رياضي وه، د رياضي کتاب مې واخست، استاد راته په لېميټ، مشتق او څه نا څه په انتيګرال کې کار کړی وو، په رياضي کې ښه ووم، پوهېدم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اکثره صنفیانو مې له رياضي سر ټکاوه، هغوي هم نه وو ملامته! ځکه چې يوه ورځ مې يوه هندي خپرونه کتله، د هغې خپرونې کوربه هم بار بار له رياضي سر ټکاوه، دا چې مزاحيه خپرونه وه او يوه د هندي فلمونو اداکاره يې په کې مېلمنه کړې وه، نو له هغې يې پوښتنه وکړه، چې د ښوونځي په دوره کې په رياضي کې څنګه وې، نو هغې ورته وويل ، چې زه په رياضي، کې تکړه ووم، نو کوربه ورته وويل، چې ښه نو! رياضي ستا په درد خوړل شوې تر اوسه؟ نو اداکارې يې په جواب کې وويل، چې هو د خپل بدن د کالوري د اندازې د زياتوالي او کموالي د معلوم‌ولو لپاره يې استعمالوم، بسس! همدومره مې په درد خوړل شوې. خو خير خبره مې دا کوله، چې رياضي د هر چا لپاره يو سر خوږی دی. يوه شېبه مې د کتاب پاڼې واړولې را واړولې، خوند يې را نکړ، غلی مې د مېز په سر کېښود، چې د مور غږ مې واورید:

- منصوره! اوبه يې درته ايښي، ځان پرېمنځه، کالي به بدل کړې، چې له ډوډۍ وروسته ځو، د تره کره دې، مبارکي به هم ورته وکم او ډېر وخت وشو، چې نه يو تللي، چې بيا به ګيله کوي! ددې خبرې په اورېدو مې په بدن کې خوشحالي او وېره خوره شوه، مور ته مې وويل

- سمه ده، مورې!

له ځان وينځلو او ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور دوي مې هم تيار شول، د کور دروازه مو بنده کړه او تره دوي کره مې روان شو، کور يې له مونږ لرې، د کلي په بر سر کې وو، په کراره کراره، له کافي مزل وروسته د تره کره مې ورسېدو، تره ښځې مې زمونږ په لېدو دومره خوشحالي وښوده، لکه اختر چې پرې ناڅاپه راغلی وي، له سترې مشي وروسته يې زر زر په حوېلی کې کټونه جوړ کړل، مونږ کېناستو د تره ښځې مې غږ کړ

- پلوشې، بالختونه راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشه له اتاقه راووته، بالختونه يې راوړل، يو يې ماته کېښود يو يې زما مور ته، مور مې پلوشه په سر ښکل کړه، بيا پلوشې ماته مخ راواړاوه او په کراره يې، وويل: ستړې مشې، تش مې ورکتل او نور نو له ستوني غږ نه راوتو، سر مې وخوځو، پلوشه زما ددې حالت په ليدو په خندا شوه او لاړه، څو شېبې وروسته يې، چاى راوړ، مونږ ته يې چاى کېښود او خپله لاړه برنډه کې کېناسته د تره ښځې مې وويل

- ددې بې چاره گۍ هم امتحانونه دي، درس وايي.
- مور مې وويل: هو کنه منصور هم شپه او ورځ په کتاب پروت وي. ما پکې را ودانگل.
- کاني کمال چرته دى؟

زما ددې خبرې سره سم، دروازه خلاصه شوه، کمال را ننوت، لکه په فلم کې چې د هيرو يادونه وشي او ورپسې دستي هغه راشي. کمال سره مې غېږ په غېږ ستړې مشي وکړه، په خندا مې وويل:

- دا تندى دې زما دې تندي سره وسولوه، چې زمونږ قسمت هم ايله شي، زما په دې خبرې سره ټول په خندا شول، د تره ښځې مې وويل:
- منصوره ځويه ته خالي پرې گوته کېږده، نور نو له تا به څوک خپله لور، خور منع کړي!؟ مور مې وويل:
- نه خورې اوس يې پرېږده، چې يو وار مکتب خلاص کړي، پوهنتون ووايي او ډاکټر شي، نو بيا به ورته چرته درک وکړو، اوس خو لا وړوکى دى.

نو ماته زمونږ د ملگري هغه خبره را ياده شوه، چې (چې کله په کور کې ښځه وغواړم، نو وايي، چې لا خو وړوکى يې، خو چې د شوتلو پنډ ته شي، نو وايي، چې غټ سنډا يې ههه. بالخت ته ډډه شوم، لمر ډېر ښه لگېده، زمونږ له کوره تر دې ځايه چې راتلو، نو لار مو د ويالې په غاړه د چنارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې وه. یوه شېبه ناست وو، چې تره او پلار مې په دروازه را ننوتل، له هغوي سره مو سترې مشي وکړه، ما کمال ته وويل:

- درياضي كتاب خو دې راكه، چې لږ درس ووايم، چې سبا بله ورځ امتحان را په سر دی، ، په خندا شو.

- زه يې له كومه كړم؟ چې فارغ شوی يم، نور مې نو د كتابونو مخه نه ده ليدلې، خو د پلوشې سره به وي، ځكه هغه خو دې هم دوره ده، لاړ شه، هلته ده برنډه كې درس ته ناسته ده، ورته ووايه، چې درته يې دركړي، په نه زړه لاړم، پلوشه زما په ليدو يوه څه له ځايه وخوځېده، په بنده ژبه يې وويل:

- منصوره! ته، ته راځه كېنه!

- هغه، امم، هغه د رياضي كتاب مې پكار وو، كه را يې كړې!!

- ښه.

له ځايه پاڅېده، لاړه د الماری نه يې د رياضي كتاب او كتابچه را واخسته، ها واخله، وا مې خستل، ترې لرې يو څه په فاصله كې كېناستم، پلوشه د تاريخ كتاب ته متوجې وه او زه پلوشې ته! پام يې شو، چې زه ورته گورم، نو په كراره يې وويل:

- څه گورې!! ومې ويل:

- د خدای قدرت! خدای پاک چې په کومې ښکلا له حده ډېر مئين ډېر وو، د هم هغې ښكلا له مخې يې كائنات خلق كړ، د هم هغې ښكلا له مخې يې نورې ښكلا گانې او ښايسته مخونه پيدا كړل، زه له هم هغې ښايسته مخونو څخه يو ته چې زما په مخكې دی گورم.

- په خندا شوه، اوه، فلسوفه!! پلوشې به لا نور څه ويل، چې د تره ښځې مې غږ وكړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلوشې، ته راشه! پلوشې، پوزه بوڅه کړه، موسکی شوه، زه به ورشم، بیا خبرې کوو.

ما هم کتاب یوې خوا ته کړ، د پلوشې په نقل مې پوزه بوڅه کړه او له ځان سره په خندا شوم، بېرته لاندې راغلم، کمال، پلار او تره مې یو هم نه وو، مور او د تره ښځه مې دوه په دوه ناستې وې، ورېمه د پلوشې سره د ختېین نغري خوا کې ناسته وه، د مور خوا کې مې کېناستم، مورې د ا خلک څه شول؟

- د تره ښځې مې جواب راکړ، کمال لاړ بازار ته، پلار او تره دې جمې ته تللي.

زه هم له کوره ووتم، په کراره کراره د شبیر دوې کور ته لاړم، شبیر کور کې نه وو، مور یې وویل، چې د غرمې ډوډی یې خوړلې او وتی دی. له ځان سره مې وویل: هغه به ځان دیدن چوک ته رسولی وي، زه هم ورپسې لاړم، شبیر یواځې ناست و، زه یې چې ولیدم په خندا شو.

- منصوره ښه شوه چې راغلې، ومې ویل
- څنگه یې شبیره!؟
- ښه یم، خو څنگه دې درک نشته، دا څو ورځې بېخي نه ښکارې!
- همدلته یم یاره، خو لږ بې سوره ووم، نو ځکه مې ستا پوښتنه هم ونکړای شوه!

تر ډېره مو خبرې سره کولې، نږدې ماښام وو، چې له هغه ځایه ووتو، زه مې د تره کره لاړم او شبیر د خپل کور په لور، ماښام لمونځ مې د تره د کور ترڅنگ په کوچني جومات کې وکړ، اسمان وریځ وو، یخ شمال چلېده، یخ مې وشو کور ته دننه شوم، اتاق ته لاړم، پلوشه او ورېمه دواړه دیوال ته ډډه وو ، کمپله یې په پښو اچولې وه، مور او د تره ښځه مې د بخارۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوا کې ناست وو، جمپر مې واغوستو، يوه شېبه د بخارۍ خوا کې ناست ووم، چې کمال لوند، خشت کوټې ته راننوت، د تره ښځې مې وويل

- لکه چې باران دی، کمال چې ټول ځان يې رېږدېده!! وويل
- هو، داسې تېز باران دی!!

د باران د نوم په اورېدو له ځايه چټک پاڅېدم، بهر ووتم، تياره خوره وه، اسمان ورېځو پوښلی وو، نرم سوړ شمال لگېده، په برنډه کې لگېدلي تت گروپ دومره رڼا کوله، چې په خوا کې د ولاړ کس مخ په خوارۍ ليدل کېده، کله کله به يو پړک شو، برېښنا به شوه، چې ټوله حوېلی به يې روښانه کړه، د قلا په بره کونج کې اشپز خانه وه، د اشپز خانې تر څنگ د توت ببره ونه ولاړه وه او د ونې نه يو څه په فاصله کې په کرل شويو کشمالو ميده، خو په شرک باران داسې را ورېده چې د جلال دا بيت يې نبغ د سرې سترگو ته اودراوه

په هغه شپه چې شرک باران په کشمالو ورېده
د زلفو ياده په خدای زړه مې چاودېده له درده

د خاورو بوې مې تر سوږمو شو، پوزه مې کش، آه!! څه خوږ بوی، چا مې په اوږه لاس کېښود، کمال وو، په غومبورو يې لاس را تېر کړ.

- وخ! څومره يخ شوي، يخ دې نه کېږي؟ څه کې! راځه چې ځو دننه!

بې له کومې خبرې ورسره روان شوم، کوټې ته دننه شو، څو شېبې ناست وو، ډوډی مو وخوړه، گرمه شوله او د غټ مال غوښه يې پخه کړې وه، هغه د چا خبره چې سخته واره يې وکړه. پلوشې دسترخوان ټول کړ، چای تيار وو، ښې ډېرې غورې مو وکړې، چای مو هم وڅښه، ښه مو ځانونه ستړي کړل، کمال خوبولې سترگې را واړولې، ياره ماته خوب راغی، د تره ښځې مې وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تا او منصور ته مې، آ غاړې په هغه بل اتاق کې ځای جوړ کړی، ځئ اوده شئ.

زه او کمال لاړو هغه بل اتاق ته، په خپلو ځایونو وغځېدو، تر ډېره مې د کمال سره خبرې کولې، خو چې مې پام شو، کمال خرېدو او اوده شوی وو، زه هم اوده شوم. سهار ملا اذان وو، چې د پښې غټه گوته مې چا کش کړه، کمال وو، سترگې یې مړلې

- پاڅه چې ځو، جمې ته!

پاڅېدم، په تودو اوبو مو اودس وکړ، جومات کې مو د ملا امام پسې په جمه لمونځ وکړ، له جوماته ووتو، ورو ورو مو د کور په لور قدم وهل پیل کړل، اسمان د شپې په څېر اوس هم وریځ و، نری نری لکه د پرخې باران ورېده، چې د شمال څپو یو خوا بل خوا پاشلو، کور ته ورسېدو، له چای څښلو وروسته مې کتاب او کتابچه واخسته، د کمال اتاق ته لاړم، دروازه مې په ځان پسې بنده کړ، آن تر غرمې مې درس وویلو، د غرمې له ډوډی وروسته د بهر وتلو چاره نه وه، ځکه چې باران لا هم ورېده، واپس د کمال اتاق ته لاړم، شېبه وروسته وږمه او پلوشه راغلل، وږمې سره په لاس کې د چایو پیاله او پلوشې سره په قاب کې مومپلي وو، موسکی شوه

- واخله بابا چې بیا ونه وایې چا مې قدر ونکړ، که د چا پلار یې نو زمونږ یار یې! او د وږمې پام چې بل خوا ته شو، نو په کراره یې سترگک ووهله، د پلوشې په دې عکس العمل مې لږ څه جرات وکړ، ومې ویل

- مننه لوفرې!

وږمې، چې زه او پلوشه دواړه یې څارلو او د سترگو لاندې یې مړه مړه را کتل، پیاله یې زما خوا کې کېښوده، دواړه له اتاقه ووتلې، نزدې ماښام وو، چې تره مې غږ وکړ .

- منصوره مونږ ځو، ترور کره دې، که ته ځې، نو راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه کاکا تاسو لاړشئ، زه به درس ووایم.

کمال، پلار مې او تره مې لاړل، له پلوشې مې وپوښتل، هغې وویل، چې شاید دوي د شپې هم هلته پاتې شي. د پرون شپې په پرتله نن شپه کور کې یو څه خاموشي وه، له چای، ډوډی وروسته د اوده کېدو لپاره یې ځایونه جوړ کړل، د تره ښځې مې وویل:

- منصور به هم همدلته اوده شي، هلته به یواځې څه وکړي!؟

په کوټه کې د بخاری ترڅنګ یې زما د مور، په خوا کې یې د تره د ښځې، پلوشې، ورېمې او لږ لرې یې ماته ځای جوړ کړ، ټول اوده شول، د کوټې په چت کې لرګین تیران اچول شوي وو، د اتاق په منځ کې د یو لرګین تیر څخه تار را ځړېدلی وو، په تار کې تت سولري ګروپ، چې په بېټرۍ کې د چارج د نه شتون له وجې یې رڼا رپېدله، لګېدلی وو، په اړخ واوختم، پلوشې کمپله په مخ کش کړې وه، مخ یې له ما پټ وو، همداسې مې ورکتل، چې ورو ورو یې له مخ کمپله لرې کړه، داسې چې ګرمي یې شوې وي، د ګروپ په تته رڼا یې په مخ، تندي او سپینه غاړه کې دانه خوله لکه د غمیو په شان ځلېده، سترګې یې پټې وې، څو تاره وېښته یې په خولو لانده د شونډو د پاسه پراته وو، ما یې همداسې مخ ته کتل او د شاعر په څېر مې په زړه کې دا هیله وټوکېده، چې:

پلِ صراط وي، که د سور دوزخ په غاړه وي
ستا د دیدن شپېبه دې سل کاله ولاړه وي

* * *

ازموینې خلاص شوې وې، رخصتي هم مخ په خلاصېدو وه، په پټېو کې دهقانانو د رزق د تلاش او لاس ته راوړلو په موخه د ټکټر په تېره نوکانو د ځمکې سینه څیري کوله او د غنمو دانې یې شیندلې. مرغانو هم د خپل وږي نفس د مړولو په غرض د دهقانانو شیندل شوی د غنمو تخم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانه دانه په مښوکو کې دځمکې له غېږې پورته کولو، له رخصتي وروسته، یو ځل بیا د مکتب زنګ هر سهار د درسي ساعت د شروع کېدو، په موخه په کلي کې انګازه وکړه، مونږ به هم لکه د عسکرو هر سهار ځان آماده کولو او د مکتب په لور به د درس په نیت تلو، دکنړ سیند اوبه او مستي ورو ورو مخ په زیاتېدو وې، د دلوې پنځلسمه وه، په مکاتبو، راډیوګانو او تلویزونونو کې د نیالګیو دکرلو لپاره پراخه کمپاین شروع وو، زما چې خپله د ونو او بوټو د کرلو سره سخت شوق وو، د ابلېټسو چې ځینې یې لاچي بولي نیالګي مې واخستل او د کلي مخکې د اوبو په وَله مې ټول په یو ردیف کېنول، نیکه به مې ویل; چې د نیالګیو کرل مهم ندي،پالنه یې مهمه ده، نو ما هم وخت په وخت په ښه شکل د نیالګیو پالنه کوله.

د حمل په لمړی نیټه د نوروز په مناسبت رخصتي وه، د ملګرو سره د سیند د غاړې د چکر په نیت له کوره ووتم، هره خوا وطن سر سبزه وو، په پټیو کې شنه غنم او شوتلې، په پولو زېړ ګلان او شنه واښه راشنه شوي وو، د نارنج ګل لپاره خو هسې هم ننګرهار د همیشه بهار په نوم یادېږي، د رامبیل د ګلانو خوږ وږم له هرې خوا د نرم او ملایم شمال سره مل راته چې د سړي وجود او روان یې باغ باغ کاوه، د کنړ سیند د اوبو شور به تر لرې لرې اوریېدل کېده، چې انسان ته به یې یو بېل کیف بخښلو.

ښه ډېر چکر مو ووهلو، غرمه مو د شاهین دوی دېره کې وکړه (شاهین زمونږ دکلي د ملک ځوی وو، ډېر تکړه هلک او د پرې ملګری مو وو) له چای څښلو وروسته ستړي ستومانه له هغه ځایه ووتو، زه مې له ملګرو د کور په نیت را بېل شوم، لاره مې د تره په کور وه، یو ځل مې په زړه کې تېر شول، چې راځه دننه شه، پلوشه به هم وګورې او تره دوي به دې هم وګورې، خو بیا مې زړه ونشو، د پلوشې دوي له کوره لږ مخکې د غنمو د پټیو تر څنګ د نارنجو ډېر غټ باغ وو، یوه شېبه اودرېدم، سترګې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټې کړې، پوزه مې کش کړه، د نارنج د ګلانو خوږ وږم مې ښه په پوره خوند حس کړ، تر ډېره ولاړ ووم، زړه کې مې تېر شول، خلک به څه وايي: دا څه بلا لېونی دی، چې سترګې يې پټې کړي، مخ يې اسمان ته دی او همداسې ولاړ دی، بيا مې واپس له ځانه سره د ځانته د قناعت ورکولو لپاره ووېل: زه لېونی نه يم، موسمونه او طبيعت هر څوک پېژني، خو ډېر کم خلک شته چې موسمونه درک کولای او حس کولای شي، ډېر کم خلک شته، چې د موسمونو او طبيعت څخه په خوند اخستلو پوهېږي. دوي د خاورو له بوی څخه هم خوند اخلي، د ګلانو له وږم څخه هم، د باران د څاڅکو له شوره هم خوند اخلي، د ناوو له شنهار څخه هم، د ستورو له ځلا څخه هم خوند اخلي، د سپوږمۍ له رڼا څخه هم، د دښتې له سوزونکو سيليو څخه هم خوند اخلي، د ژمي د سوړ شمال څخه هم او زما په نظر د طبيعت څخه خوند اخستونکي او په طبيعت کې ښکلا لټونکي د نړۍ تر ټولو خوشبخته خلک دي.

د ماښام اذانونه شروع وو، چې د کور په درشل مې قدم کېښود، له لمونځ اودس وروسته په خپل اتاق کې په خوره توشکه وغځېدم، ګوشکې مې په غوږونو کې ورکړې، او په ډېر کمزوري غږ مې د هارون باچا په اواز د کاروان صيب دا غزل ولګولو،

وخت به راځي، چې غاښ د زهرو به ښامار نلري
منصور به ګـــرځي مســتانه ملا به دار نلــري

کله کله به مې چې دا غزل ولګولو، نو وږمې به ويل؛ دا سندره ته ځکه اورې چې ستا نوم پکې اخلي، سخت ستړی شوی ووم، همداسې مې سترګې ورغلې وې. يو وخت مې پام شو، چې کمپله راباندې چا اچولې وه، موبايل مې د بالخت په خوا کې يو طرف ته پروت وو، ساعت ته مې وکتل، څلور بجې وې، موبايل مې کېښود، سترګې مې پټې کړې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت ووم، د سهار تته رڼا لګېدلې وه، پاڅېدم، اودس مې وکړ، لمونځ مې وکړ، دعا مې کوله، چې مور مې راغله.

- د شپې همداسې اوده شوی وې، کمپله مې دربانديې جوړه کړه، ما ويل چې يخ دې ونشي.

دعا مې خلاصه کړه، جای نماز مې قات کړ او د ميز په سر مې کېښود. بهر ووتم، خپلو ټولو تازه کرليو نيالګيو ته مې اوبه واچولې، سردار کاکا په خپل پټي کې شوتل رېبل، زمونږ د کور نه په وتو، چې لاس ته يو کوچنی ختين جومات وو، د جومات په کوچني انګړ کې چې به اودرېدې، نو د لمر پرېوتو طرف ته مخامخ د شوتلو او غنمو د پټيو نه ور اخوا د اوبو د ولې د پاسه د توت او ابلېټسو لوړې ونې ولاړې وې، د ونو د څوکو نه پورته چې به دې مخامخ وکتل، نو د کُنړ غر ښکارېده، چې په واورو سپين پوښل شوی وو، له کوچيانو مې اورېدلې وو، (د کُنړ غر شاته يو تک شين سر سبزه چمن دی، چې دې چمن ته يې د ښاپېرو ډنډ وايي، يوه ورځ يو کليوال مې کيسه کوله چې زما پلار به دې ځای ته تلو، د ښاپېرو ډنډ تک شين سر سبزه چمن وو، رنګ رنګ ګلان به پکې اوړی ژمی ټوکېدل، کله به چې کوچيانو رمه ور وسته، سهار به چې رمې لدې ځايه واښه وخوړه، نو د خدای په قدرت به تر سبا سهار بيا را شين وو). د جومات سره په خوا کې قبلې طرف ته په دوه متری کې غټه پخوانۍ هدېره وه، په قبرونو تازه شنه درب ولاړ وو، تقريباً د هدېرې په منځ له يوه قبره چاردېوالي شان تاوه شوې وه، دکلي خلکو به ورته قندي ولي بابا ويلو، د قندي ولي بابا د قبر په خوا کې د غز دوه پخوانۍ غټې ونې ولاړې وې، د يوې ونې په غټ شاخ کې تور کارغه ناست وو، کاغ کاغ غږونه يې کول، پام مې شو سردار کاکا شوتله په لاس ګاډي کې بار کړې، لاړم خواته يې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



گاډی مې ورسره د کوچنی ویالې څخه تېر کړ، کور ته راغلم، چای مې وڅښلو او د مکتب په لور وخوځېدم.

دریم ساعت وو، نگران راغی، د نگران په ننوتو په صنف کې جوړ غالمغال ختم شو، نگران چې په گوتو کې توش (مارکر) څرخولو، هلکان مخاطب کړل، تاسو له خیره فارغېږئ، نو سبا به هر یو دوه نیم سوه افغانی او دولس قطعې عکسونه د شهادتنامې د پاره او که څوک د کانکور ازموینې لپاره ثبت نام کول غواړي، نو څلور قطعې عکسونه او څلور سوه افغانۍ دې د هغې لپاره له ځانه سره راوړي، نگران له صنفه ووتو او یو ځل بیا په صنف کې شور جوړ شو، ځینې هلکانو دومره د خوشحالۍ اظهار کاوه، چې تا به ویل همدا اوس فارغېږي.

له مکتبه رخصت شو، کور ته لاړم، دوه نیمې بجې شاوخوا وې، له کوره د شبیر د لیدو په نیت ووتم، شبیر کور کې وو، له ځانه سره مې ملگری کړ او د دیدن چوک په طرف لاړو، شبیر ته مې وویل:

- شبیره اوس نو له خیره فارغېږو، تاسو ته مو نگران د شهادتنامو او ثبت نام په اړه څه وویل که نه؟ شبیر په کراره لکه په زور چې دې لگیا کړی وي، وویل.
- هو، ومې ویل
- څنگه خفه یې، ولې؟؟
- هیڅ، هسې! لږ طبیعت مې خراب دی.
- گوره شبیره، زه دې ورور یم او له وروره څوک خبرې نه پټوي، ووایه، څه خبره ده؟
- د شبیر سترگې ډنډ شوې، د خپلو اوښکو، د پټولو په نیت یې سترگې له ما بل طرف ته واړول، یوه شېبه غلی وو داسې چې غریو نیولی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خبرې نشي کولای، په کراره یې وویل: منصوره! زه تعلیم کوم، ایا بد کوم؟

- نه ولې؟
- ایا د تعلیم کولو حق نلرم؟
- لرې، ولې یې نه لرې، خو خبره څه شوې، ماته ووایه، زما دې سودا کړه!
- کاشش! پلار مې مړ نه وای، خپله خو لاړو په وطن یې ځان قربان کړ او زه یې اته کلن د خپلې مور سره یواځې پرېښودم، تره مې هم بې وسه دی، بې چاره! کور یې ودان تر خپله وسه یې مونږ سره همکاري کړې ده، نور نو مور مې دکلیوالو جامې گنډلي دي او زه یې تر دې ځایه پاللی یم، خو ددې وطن واکدارو یوه ورځ هم د خپل د اردو د شهید د کورنۍ پوښتنه ونه کړه، چې په کوم حال به وي، کاشش! غریب نه وای، نو نن به مې د خلکو دا پېغورونه نه اورېدل، پوهېږې! منصوره نن په مکتب معلم صېب د شهادتنامې لپاره د دوه نیم سوه افغانیو وویل، زه چې کور ته راغلم، نو مور ته مې وویل، چې ماته درې سوه افغانی راکړه، چې پنځوس افغانی به عکسونه وباسم او پاتې دوه نیم سوه افغانی به سبا نگران ته ورکم، هغې بې چاره سره پیسې نه وې، نو راته یې وویل: ته صبر چې له خاله نه یې درته واخلم، هغه لاړه، زه هم ورپسې کراره ورغلم، د خاله دوي له کوره بهر د دروازې په خوا کې اودرېدم، مور مې په خوشحاله لهجه خاله ته وویل .
- خورې! ځوې مې له خیره فارغېږي، په مکتب کې یې ورنه د شادتنامې لپاره درې سوه افغانۍ غوښتي دي، ما سره نه وې، نو که تا سره وي، را یې که بیا به یې درته درکم. ترور مې یو څه په لوړ غږ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خورې! ته ډېر ساده یې، ځوې دې زلمی دی، چېرته مزدورۍ ته یې لېږه، نو درې، څلور سوه افغانۍ به درته ګټي، ته به هم خوشحاله یې او زه به هم درنه خلاصه یم، چې هر وخت راځې او دپیسو سوال کوې... مور مې یې خبره ور پرې کړه؛
- خورې څه وایې!!! سوال خو درنه نه کوم، قرض یې درنه غواړم، کور دې ودان، که پیسې دې راکړي، نو یوه یوه روپۍ بېرته درکړې ده.... خاله مې په مکر او غوسې وویل.
- وی وی!!!! دې ته ګوره، د چا په سر دې ورځې شپې سبا کېږي دلته! چې تعلیم کولای نشئ، نو مه یې کوئ کنه! تعلیم خو په سوال نه کېږي، د شهادتنامې دوه سوه روپۍ درسره نشته او تعلیمونه کوئ، تاسو په دې غریبۍ کې هم مستي کوئ... مور مې په ژړه غوني غږ وویل.
- خورې پیسې نه راکې، نو مه راکوه، خو خیر دی!! دا پېغورونه دې له ځان سره سمبال وساته، زه به له کوم بل ځای نه ورته بندوبس وکړم...

مور مې په سلګو اخستې، راووته، زما په لیدو یې د خپلو اوښکو د پټولو هڅه یې شروع کړه، ما هم ځان نا ګمانه کړ، داسې لکه په هېڅ چې نه یم پوه او هېڅ مې نه وي اورېدلي، ویې ویل

- ځویه راځه! د خاله سره دې پیسې نه وې، ته خیر دی استاذ ته دې ووایه، چې یو دوه ورځې دې صبر وکي، هغه د زرمیني دوې د واده کالي مې ګنډلي، چې پیسې یې راکړې، نو درته به یې درکړم، وریې کړه، ورو مې وویل.
- ښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصوره! خاله مې سم وايي، غریب سړی یم، زه په تعلیم څه کوم، پوهېږې! زه د جدي په میاشت کې په یوه جوړه جامو او پلاستیکي چپلکو کې مکتب تلم، تا خو وکتل زمونږ د پښتو استاذ، زه له صنفه وویستم، بهر یې راته وویل، چې شبیره پدې پوهېږې د ځان ساتل فرض دي، ته ولې جمپر او بوټان نه اغوندې، نو ما به یې په ځواب کې ویل، چې استاذه نه مې خوښېږي، هرڅه شته، خو نه یې اغوندم. کله کله به راسره د کتابچې اخستلو پیسې هم نه وې، چې استاذ به کورنۍ وظیفه وغوښته، نو ما به ورته بهانه وکړه، چې کتابچه رانه په کور کې پاتې ده او په یوولسم صنف کې، خو مې په بسته کال کې قلم نه دی اخستی، کله د یو نه واخله او کله بل نه! ددې لپاره نه، چې ما نه غوښتل چې پیسې مصرف کړم، بلکې ددې لپاره چې ما به د قلم اخستو لپاره پنځه افغانۍ هم په جیب کې نه لرلې، خو زور به یې هغه زښت زیات راکړ، چې په تفریح کې به له تاسې پټ شوم، یواځې به د مکتب شاته په پټیو کې ناست ووم او زیات وخت به له هغه چا سره ملګری ووم، چې پوهېدم به دی هم زما په شان د څه شي دا خستلو وس نلري.

د شبیر دې خبرو سخت ودردولم، له لاسه مې ونیو، کلکه غاړه مې ورکړه، په مخ مې لکه د مهربانې مور ښکل کړ، په مخ مې ورو په څپېړه وواهه

- شبیره زه دې ورور یم، ورور..... خو ته! افففف ته په خبره نه پوهېږي، ما درته سل ځلې ویلي دي، چې څه دې پکار وي، غاړه دې بنده، چې ماته یې نه وایې، خو ته!!... له لاسه مې ونیو، ومې ویل تذکره دې جیب کې ده؟
- تذکره!! په تذکره څه کوې؟ په ملنډو مې وویل .
- د اردو لپاره درته نوم لیکنه کوم!! هههه دا ووایه چې، تذکره دې، جیب کې ده او که نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو جېب کې مې ده،! څه چې څو.

دواړه روان شو، لاړو بازار ته، عکاسخانې ته ننوتو، عکسونه مو وویستل، د تذکرو کاپیانې مو هم وویستې، دکاندار ته مې پیسې ورکړې، له هغه ځایه ووتو واپس د کلي په لاره سم شو، اووه سوه افغانی مې شبیر ته ورکړې

- دا واخله!

د شهادتنامې پیسې هم ورکړه او د کانکور ثبت نام هم وکه! را وېې کتل سترګې یې ډنډ شوې، را غاړې وتو.

- وروره ته پوهېږې! زه دې وګټلم.

- ګوره شبیره! ستا دې قسم وي، چې هر څه ته دې ضرورت وي، ماته فقط اشاره وکه، ته نور خلاص یې، مونږ ته خدای هرڅه ډېر راکړي...

په خبرو خبرو د شبیر دوي د کور مخ ته ورسېدو د ماښام اذانونه کېدو والا وو، له شبیره مې اجازه واخسته او د کور په لور لاړم.

* * *

هوا ورځ تر بلې ګرمېده، د ګرمۍ له وجې د غنمو رنګ مخ په زېړېدو وو، توتان پاخه شوي وو، د کلیوالو دېرې یو ځل بیا ابادې شوې وې، د توت د ګڼو ونو لاندې به ماشومانو لوبې کولې او چې ګرمي به یې وشوه، نو په لویه ویاله کې به یې لامبل، د کلي د لویې ولې په غاړه ناستووم، ماشومانو په ویاله کې د غل او پولیس لوبه کوله، لږ ور اخوا د ویالې په غاړه څو هلکان په سطرنجۍ ناست وو، قطعې یې کولې، په منځ منځ کې به یې یو دم چېغې کړې، وبه یې خندل، د ماشومانو چېغې شوې، ومې کتل، یو ماشوم بل نیولی او غوټې ورکوي، په غوسه مې ورپسې غږ وکړ:

- وه الکه پرېږده! ته خو غټ سړی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک راته بد بد وکتل، سترګې یې برګې کړې او ماشوم یې ورو شان ټېل واهه، هغه بل ماشوم، چې سترګې یې اوښلنې وې، راته وکتل، ورته موسکی شوم، هغه هم موسکی شو، له ویالې ووتو او لاړو، دا چې په دوه پښو ناست ووم، پښې مې شخې شوې، له ځایه پورته شوم، روان شوم، په هلکانو مې سلام وکړ، په قطعو دومره سره راغلي وو، چې زما سلام یې هم وا نه خستو، څو قدمه مخکې لاړم، خپل سلام ته مې خپله وعلیکم وویلو، ساعت ته مې وکتل، ۱۱:۳۰ وو، په ګړندیو قدمونو مې ځان کور ته ورساوه، له دروازې په ننوتو مې سترګې د تره په ښځې ولګېدې، چې د کور په انګړ کې د ونې لاندې د سطرنجۍ سر ته ناسته وه، ترڅنګ یې پلوشه او ورېمه او ورته مخامخ په بله توشکه مې تره او کمال ناست وو، ما څه ویلو ته خوله جوړوله، چې مور مې یو څه په غوسه وویل:

- چرته وې؟ سهار چې وتی یې، سودا مې د شمائلې په ځوې را وغوښته! د تره ښځې مې د مور خبرې ور غوږې کړې، ته پرېږده خورې، چې منصور خو یو وار کېني، له ټولو سره مې سترې مشي وکړه، د تره په خوا کې کېناستم، پلوشه له ځایه پاځېده، ورېمه یې وڅکونډله، دواړه د کلا په کونج په ونو پنا د باغچې په طرف لاړې، ټولو په خبرو مصروف وو، شېبه وروسته زه په کراره له ځایه پاځېدم، شا شاته مې کتل، ورو باغچې ته لاړم، پلوشې چې زه ولېدم، په چالاکۍ یې وویل

- ورېمې هغه ستاسو مرغۍ چې وه، ورېمې وویل؛

- کومه هغه کَنرَي!؟

- هو کَنرَي ته ورشه هغه راوړه! ورېمه لاړه، د پلوشې خواته ور نزدې شوم، لکه پلوشه چې زما په زړه پوهېدلې وي، لاس یې راته داسې ونیو، چې د لاس ورغوی یې ماته مخامخ وو، لکه د شاعر هغه خبره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړي مشي راته وکه، خو د لرې نه جانانه
نـاروا به رانـه وشي د روا د لاســــــه مــړه

- سمه ده، پوه شوم، ستړې مشې، څنګه یې؟
- ښه یم ته ښه یې، څنګه لا دَرَکه یې؟ که ته داسې ناخبره او لا دَرَکه ځان پرېږدې، نو کېدای شي، چې سبا بل سبا مې درنه شاکر یوسي، بیا یې په خفه انداز وویل: منصوره یوه خبره وکم!
- وکه
- دا مونږ چې څه کوو، ښه کوو؟ ومې ویل
- نه پوهېږم! زه صرف دومره پوهېږم، چې مینه درسره لرم!
- سره لدې چې پوهېږې، زه د بل چا په نوم یم؟ ستا نشم کېدای! ترخه خندا مې وکړه، تېر شه له دې خبرو، سمې خبرې وکړه!
- نه تېرېږم، ته پوهېږې! ماما مې راغلی وو، ویل یې، چې پلوشه خو له دولسمه فارغېږي، نو څنګه مو خوښه ده، چې کوژده وکړو، مونږ هم خلکو تنګ کړي یو، همدا وایي کوژده کله کوئ او کوژده کله کوئ، مور دوي مې ورسره خوښه وکړه له فراغته وروسته مو کوژده کوي، ومې ویل
- نو زه څه وکم!! وکه کنه! کوژده! څنګ چې دې خوښه وي، چې پوهېدې، زما نشې کېدای، نو ولې دې اظهار کاوه، هم هغه وخت به دې جواب راکړی وو!
- زما خوښه! ههه، کاشش! زما خوښه وای، اسلام د جینۍ خوښې ته اجازه ورکوي، ولې پښتو؛ پښتو بیا دا حق هم له مونږ اخستی، زه مې دپلار د یو لوظ قرباني یم، په هغې خپل لوظ دومره ګران دی، هېڅکله به پرېنږدي، چې لوظ یې مات شي، خیر دی، که د لوظ په خاطر یې زړونه ماتېږي، سرونه ماتېږي او حتا اماده دی، چې د لوظ په خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ورورولۍ دا رشته هم قرباني کړي! ته څه فکر کوې، چې ما په چُپه خوله دا هر څه ورسره ومنل، نه!! هېڅکله نه، ما ورسره ډېر بحث وکړ او زما خوله يې فقط پدې يوه خبره را بنده کړه، چې که زه په چُپه خوله دا رشته ونه منم، نو هغه به زما په سر له تاسو سره هر رشته له منځه يوسي او پاتې شوه د اظهار خبره! زه له هغې اوس هم منکره نه يم، زه اوس هم وايم، چې مينه درسره لرم...... پلوشې به لا نور څه ويل، چې له شا نه مې د مور غږ واورېد،

- رښتيا وايي، ځويه دا پښتو ده او د پښتو لپاره ستا تره نه بلکې که هر څوک واى، نو هغې به همداسې کولی، نو بس ښه به دا وي، چې دواړه چُپه خوله، دا هرڅه ومنئ! ما د پلوشې ټولې خبرې واورېدې، خير دی ځويه په زړه دې زور وکړه، او دا هر څه هېر کړه! د پلار غږ مې شو
- د منصور مورې چرته يې؟ مور مې وويل:
- راځئ، ډوډی تياره ده، ډوډی وخورئ! بيا يې غږ وکړ، دا يم راغلم.

ډوډی تياره وه، ډوډی مو وخوړه، پلار دوي مې ناست وو، بې له دې چې اجازه واخلم، له کوره ووتم، دا چې د جُمعې ورځ وه خلک د جماتونو په طرف روان وو، خو زه بيا ددوي بر عکس د سيند غاړې ته روان شوم، سيند ته نزدې ووم، چې کشتيوان او دوه سپين ګېرو ماته کتل، ( معمولاً کشتيوان به لرې را روانو خلکو ته منتظر و، چې شايد دوي هم له سيند نه پورې ووځي)، نو پدې تمه ماته هم منتظر و، لاس مې پورته کړ او پداسې شکل مې وخوځو، سرې مې پوه کړو، چې نه ځم! کشتيوان د کشتی پړی خلاص کړ او کشتی ته يې حرکت ورکړ، د سيند په غاړه په شوې سنګکاري کېناستم، لمر تېز لګېده، زر يې تنګ کړم، له هغه ځايه پاڅېدم، د سيند سره مې يو شان حرکت پيل کړ، ډېر لرې يو ځای داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، چې يوه زړه پخوانی ونه ولاړه وه، د ونې لاندې شګو کې داسې خاپونه موجود وو، چې ښايي همدا اوس څوک لدې ځايه تللي وي، د سېګرټو پاتې شونې، د قِطعو شلېدلې پاڼې او د الکوزيو درې قُطعې پرتې وې، قُطعې مې يو يو په لغته ووهل، د ونې ډډ ته مې ډډه ووهله، له ځان سره موسکی شوم، ورو مې وويل: پرېږده مړه، دا څه دي.... له ځانه دې لېونی جوړ کړی، ته څه فکر کوې، که ته دا هرڅه وکړې، نو هغه به ستا شي، سر مې وخوځو، مچۍ مې د غوږ سره وبنګېده، يو دم مې خېز کړ او په لاس مې مچۍ کلکه ووهله، مچۍ اخوا پرېوته، د پښې لاندې مې ومروړله، واپس په خپل ځای کېناستم او بيا مې ځان ته قناعت ورکول شروع کړل، داسې چې ځانته د نصيحت له کولو سترې شوی اوسم، موسکی شوم، په کراره مې وويل:

که مې سل نصيحتونه ورته وکـــړل

هغه خدای بې لارې کړی په لار نشو

وېښتان مې په ګوتو را جوړ کړل، د سيند له اوبو مې دوه درې لپې اوبه مخ ته ور وشېندلې، په لمنه مې مخ وچ کړ، سپين کالي مې په غاړه وو، چې لمنې ته مې پام شو، نو د مخ د خېرو داغ مې په لمنه جوړ شوی وو، په خندا شوم، ياره ته خو په رښتيا لېونی شوی يې! اوږې مې پورته څنډ وهل، په عاجزانه انداز مې وويل: خدای دې په ما ورحمېږي! نزدې ماښام وو، چې کور ته لاړم، خپلې خونې ته ننوتم، مور مې چې وليدم، را باندې پوه شوه، چې خفه يم، راپسې راغله، ستوني ستغ پروت ووم، را غږ يې کړ

- منصوره! دا ولې؟ ومې ويل

- ولې؟ څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې په وېښتانو راته لاس را تېر کړ، د خپلې لوپټې په پېڅکه يې مخ را پاک کړ، له لاسه يې ونيولم، پاځه! کالي دې بدل کړه، چې پلار دې پدې حالت ونه ګوري، هغه به څه فکر کی!؟ ومې ويل

- نې بدلوم، پاک دي، په غوسه شوه،

- داسې مه کوه نو!!! ښه سمه ده، ځان لېونی کوې؟ ها ووايه!! او بله دا ته نه وې خبر، چې پلوشه د شاکر په نوم ده، نو بيا دا هرڅه څه دي؟

- مورې خير دی، ما يواځې پرېږده

- په زوره يې پاځولم، راځه! شابه لاړ شه تشناب کې اوبه شته، ولامبه، کالي دې بدل که، چې هغه دی پلار دې هم راغی، پاځېدم، ومې لامبل، کالي مې بدل کړل، لاړم د پلار په خوا کې مې کېناستم.

* * *

ورځې شپې داسې تېرېدې، چې کله کله به مې له ځان سره د دعا په ډول وويل؛ خدايه ما ددې ورځو شپو په ارمان مه کړې، دمکتب په کلنۍ ازموينه کې د شپږو کالو څخه وروسته مې په لمړي ځل اول نمره ګي له لاسه ورکړه، خفه نه ووم، ځکه چې چا خپله مينه بايللې وي، نو هغه به د اول نمره ګۍ څه پروا وکړي. يوه غرمه تېزه ګرمي وه، لمر يوه نېزه را ښکته وو، د پنج شنبې ورځ وه، په خپله کوټه کې پکي ته پروت ووم، زړه مې تنګ وو، ځينې وخت چې به کومه بده پېښه وشوه، نو مور به مې ويل دا پېښه کېدونکي وه، ځکه زما زړه تنګ وو، نو ما به ورپسې خندل، خو زما زړه تنګون داسې وو، چې ما هم ګمان کاوه، چې شايد د کومې بدې پېښې زېری راشي، ما فال نيولو، چې مور مې په دروازه را ننوته، خوا کې مې کېناسته او بې له کومې مقدمې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پلوشې دستمال دی، بېګا ته!
- ښه!
- هو! ټول يې غوښتي يو.
- تاسو لاړ شئ، زه نه ځم.
- ولې نه ځې؟ که ته لاړنشې، نو د ټولو سره پوښتنه پيدا کېږي، چې ولې را نغی، بس چې هر څنګه وي، ځې به!!
- ومې ويل نه ځم، بسس! تاسو لاړشئ، مور مې سوړ اسوېلی وکړ! پاڅېده، ښه نو، چې ته نه ځې، مونږ هم نه ځو! په غوسه مې وويل، مورې، خو تاسو لاړشئ، ما څه کوئ! زه نشم تلای!
- نه ځو، چې ته نه ځې، نو مونږ هم نه ځو او که پلار دې د نه تګ د وجې پوښتنه وکړه، نو هرڅه به ورته رښتيا ووايم، خبره ختمه!!!
- افففف!!!! مورې خدای ته وګوره، مور مې ماته هېڅ غوږ ونه نيوه او همداسې له خونې ووته. په حوېلۍ کې مې د پلار غږ شو، مور ته مې لګيا و، کارونه دې وختي خلاص که، چې وختي لاړشو، مور مې څه ويلو ته خوله جوړوله، چې زه ورپسې ووتم او د پلار د خبرو په تاييد مې وويل
- مورې پلار مې رښتيا وايي، زر زر کوه، چې ځو!!!

تره (کاکا) مې ډېر ټېنګار وکړ، چې بيا وختي راشئ، د مور په شونډو مې سوځېدلې مسکا را خوره شوه، ماته يې را وکتل او د ښه په ويلو يې، د لوښو ډکه جالۍ را واخسته او اشپز خانې ته ننوته، واپس لاړم، خپله کوټه کې د پکې يخ باد ته پړمخې پرېوتم، څلور نيمې بجې وې، لمر يو څه سوړ شوی وو،د تره کور ته د تګ په نيت مو کور ته قلف واچولو... تره کره مې ټول خپل خپلوان را جمع وو، هر څوک چې مې په مخه راته، نو له سترې مشي دمخه به يې اول ګيله کوله”چې ولې ورکره نه ځم“ وږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو مې اوس هم پلوشه لټوله، خو د پلوشې درک ونه لګېد، تره مې راغی او له سترې مشي وروسته يې ما او کمال ته د دېرې د جوړولو وظيفه راکړه، له کوره مو کټونه وويستل، په کټونو کې مو بالختونه کېښودل، د دېرې د جوړېدو وروسته، يو ځل بيا کور ته ننوتم، دا ځل مې پلوشه وليده، خفه وه، ماسره يې سترې مشي هم ونه کړه، مخ يې را نه واړولو، د پلوشې پدې رويه مې ډېره خوا بده شوه، خو خير څه مې کړي واى، ډکې سترګې له کوره ووتم، دېره کې د کمال دوي ځينې کليوال راغلي وو، ځو شېبې په کټ کې ناست ووم، چې کمال را غږ کړ

- منصوره دلته راشه! ورغلم، له لاسه يې ونيولم، راته يې وويل؛ ولې خفه يې؟ خيريت دی؟

- هو خير دی، هسې زړه مې تنګ دی، مونږ په خبرو وو، چې يو سپين کرولا موټر او يو مرسېډيز پرلپسې له دېرې لږ لرې د لارې په يوه څنډه کې ودرېدل، خلک ترې را ښکته شول، د کرولا د مخکې سيټ دروازه خلاصه شوه، يو ښايسته دنګ هلک ترې را ښکته شو، کمال ورو غوندې وويل

- په حج اوقافو کې يې وظيفه اخستې غوږ شوی دی، لاړو وار په وار مو له ټولو سره سترې مشي وکړله، ما خو له کينې، شاکر او پلار سره يې هيڅ سترې مشي ونه کړه، خو کمال بيا له دواړو، ښه کلکې غېږې واخستې، چې پدې کار مې کمال هم له پامه بد راغی، که زما په واک کې واى، نو دا ټول راغلي خلک مې له همدې ځايه رخصتول، په دېره کې مو مېلمنو ته د شودو چاى، کيک او کُلچې ورکړل، ټولو چاى وڅښلو، تره مې غږ وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- منصوره ته ورشه، هغه ګل راوړه، زه کور ته ورغلم، ګل مې واخست، دېرې ته مې يوړو، د تره او مولوي صيب په مخکې مې کېښود، مولوي صيب وويل:
- نکاح به يې وتړو، د موبايل وخت دی، که هلک او جينۍ د يو بل سره خبرې کوي او يا هلک له واده مخکې د جينۍ سره کېني پاڅي او يا هم لاس په لاس سترې مشي کوي، چې ورته روا شي، تره مې او د کمال ماما په يوه خوله ورسره موافقت وښودو، زه ولاړ ووم، يواځې تماشه مې کوله، له ځانه سره مسکی مسکی کېدم، نکاح وتړل شوه، دعا وشوه، له دُعا وروسته کمال په ګل کې د چاکلېټ د تقسيم په خاطر چې د راغلو مېلمنو خوله ور خوږه کړي، ګل په ټولو وګرځاوه، ما هم له ګل نه يو چاکلېټ واخست، چاکلېټ مې خولې ته ور واچو، غلی مې وويل:
- خدايه! ستا له انصافه نړی مننه او ډکې سترګې له دېرې ووتم....

د کوژدې مراسم خلاص شول، خلک ټول خپلو خپلو کورونو ته لاړل، زما د ضد له وجې مې مور هم د تره دوي نه خدای په اماني واخسته او کور ته راغلو. د ماښام اذنونه شوي چې کور ته ورسېدو، لمونځونه مو وکړل، پلار مې له مونږ لږ وړاندې موبايل په لاس ناست وو، خفه ښکارېدو، ما مې پلار کله هم دومره خفه نه و ليدلی، مور مې د پلار خواته ورغله، په اوږه يې ورته لاس کېښود، ورو يې وويل

- څه خبره ده؟ څنګه داسې خفه يې! پلار مې سوړ اسوېلی وکړ.
- هر څه ختم شو، هرڅه!!! نن سبا په چا اعتبار کول... افففف!! زه به دا دومره پيسې له کومه راوړم!؟ مور مې په حيرت وپوښتل:
- د څه پيسې!! څه شوي زر ووايه!! پلار مې خپله ګيره په موټې کې را ونغاړله، انجينر نسيم!! زما د پروژې شريکوال سره د ټولو پيسو ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، اوس منشي زنګ وهلی وو، چې د انجینر صیب نمبرونه هم دا دریم ورځ ده چې بند دي، ایمیلونه مې ورته کړي، دهغې ځواب هم نه راکوي، کورته یې ورغلو، نو له هغه ځایه راته معلومه شوه، چې کور یې دوه ورځې مخکې خرڅ کړی او سړی ورک دی. پلار مې سترګې په ځمکه ګنډلې وې، زما مور ته یې وویل: اوس به څه کوم، خلک له ما کار غواړي، که چېرته زه مې په نوې پروژه کار شروع نه کړم، نو هغوي به ما داسې په کراره پرېنږدي، زه مجبور یم څه چاره وکړم، د دومره ډېرو پیسو بندوبس کول، سخته څه چې بیخي نا ممکنه ده، درې جریبه ځمکه مې ده، د کلي ځمکه ده، چې ډېره بیه وکړي، نو ایله لس لکه افغانۍ... او نورې... نورې به له کومه کړم!؟ پلار مې بیخي ذهني توازن له لاسه ورکړی وو، ګرد په حوېلۍ کې څرخېده.

پلار مې ملا اذان له کوره ووت، مور مې په جای نماز پرته همداسې دعا ګانې کولې، هر څه رانه هېر وو ، د پیسو کیسه کې نه ووم، بلکی د پلار پنځه ویشت کلن عزت او اعتبار ته چې د خلکو په منځ کې درلود، خفه ووم، پلار مې ویل که چېرته انجینر نسیم مو په لاس را نشي، نو مال، حال زندګي، عزت، هرڅه به مو نیلام شي. رښتیا هم همداسې وشول، د پیسو تور ټول زما په پلار ولګېدو او د فریبکارۍ په جرم کې د محکمې لخوا یې تر هغې د حبس (بندي کېدو) حکم وشو، چې تر څو د پروژې پیسې، د انجینرانو او مزدورانو معاشونه ورنکړل شي، پلار مې په بند کې د فشار د لوړېدو له وجې خپله ساه د کایناتو ستر رب ته ور حواله کړه او مونږ یې په ناسوره نړۍ کې د پنډ غمونو سره یواځې پرېښودو.

په کلي کې به چې اکثره وخت له چا سره مخ شوم، نو یو ځل به یې زما د پلار په هکله راته دپېغور په ډول وویل چې زمونږ خو له انجینر صیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه داسې تمه نه وه، چا به يو ډول او چا به بل ډول خبرې کولې، ځينو خو آن زما پلار ته د غل او ډاکو خطاب کاوه، ما هم په کلي کور کې هغه پخوانی عزت او قدر د ملګرو او کليوالو په منځ کې نه درلود، کله کله به مې د ګيلې په ډول دا بيت په زړه کې تېر شو.

په ملګـرو نازېدمه خو غلط وم

ته سهي وې تا ګټلې ده غربته

مور به مې چې د چا مړي او ژوندي ته لاړه، په واپس راتلو کې به يې سترګې سرې راوړې وې، پردي خو څه چې آن خپلو مو هم له مونږ لاس واخست، د يو پاو چايو باور هم چا راباندې نه کاوه، هغه ښځو (چې په مخه به يې ورغلم، نو په سر به يې ښکلولم او ويل به يې د انجينر صيب ځويه اوس مونږ پېژنې هم نه!!) زما له پېژندنې انکار کاوه او په مخه چې به يې ورغلم، نو چادرې به يې په مخ راکش کړه او مخ به يې پټ کړ چې هله سړی راغی، آخر دا هرڅه مې ونه شو زغملی، د مور په مشوره مې د کلي يو پټی خرڅ کړ، په ښار کې مې يو کرايي کور د پروېز په مرسته، د پروېز دوي د کور په خوا کې ونيو، هندي رېکشه مې واخسته، سهار به ووتم او ماښام به واپس کور ته راغلم، ښه و، يو اندازه مزدوري کېده، په لمړيو کې د ښار د ژوند سره بلد نه ووم، ساه به مې پکې بنده بنده کېده، له شوره ډک ماحول به يې زما په ذهن ډېر بد لګېده، خو ورو ورو د ښار له خلکو او ماحول سره عادي شوم او لکه د نورو خلکو زه هم د ښار په رنګ کې رنګ شوم.

* * *

يوه ورځ مې مور راته يادونه وکړه، چې د خدای بخښلي پلار دې دا غټ ارمان وو، چې په تا پوهنتون ووايي او لوې سړی درنه جوړ کړي، پروېز هم هر وخت د پوهنتون د شروع کولو لپاره ټينګار کاوه، ورېمه مې د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د ښار يوې لېسې ته سه پارچه کړه، ما هم د پروېز په مشوره په يو خصوصي پوهنتون کې د کمپيوټر ساينس پوهنځی شروع کړ، سهار شپږ بجې به پوهنتون ته په خپله رکشه کې تلم او لس بجې به له هغه ځايه رخصتېدم او تمامه ورځ به مې خپله مزدوري کوله، خدای شته اکثر به چې ما د خپلو هم صنفيانو او ملگرو له عيش و عشرته ډک ژوند وليد، نو ماته به يې يو څه زور راکړ، هغه وخت چې مو هر څه درلودل، ماشومتوب وو، اوس مې چې ځواني شوه، د سيالی وخت مې شو، خدایج هر څه را څخه واخستل، مال، دولت، عزت هر څه!! خو زه بيا هم دې ته خفه نه ووم، چې ولې دا هر څه را څخه خدای واخستل، بلکې خفگان به مې هغه وخت زړه ارې ارې کړ، چې د پلار د نشتون احساس به راته وشو، خو هڅه به مې کوله، چې مور او ورڼمې ته مې د پلار د نشتون احساس ورنکړم، کومه ورځ به مې چې د مور او ورڼمې په شونډو موسکا وليدله، نو د ژوند تمام خوندونه به مې هغه شېبه حس کړل، بس هر وخت به مې همدا هيله او هڅه وه، چې د دوي په شونډو مسکا خوره ووينم او هغه څه چې د دغې مسکا سبب کېږي راوړم او د هغوي په قدمونو کې ور واچوم، ورځې شپې لکه د پکي د پرو په شان په تېزۍ څرخېدې، د ژوند د زينې په يوويشتم پوړ مې قدم کېښود، د پوهنتون د دويم سمستر د شروع دريمه ورځ وه، لومړي دوه ساعته خالي وو، سهار مهال له کوره ووتم، په سرک راته درې ولاړو نجونو لاس راکړ، رکشه مې ودروله، يوې نجلی وويل:

- وروره دارالمعلمين پورې ځو، ومې ويل

- وخېژئ، درې واړه وختې.

روان شوم، ډېرې خبرې يې کولې، خو يوه نجلی پکې خاموشه ناسته وه، په ټوله لاره يې يوه کلمه هم ونه ويله، نجونې د ننگرهار عالي دار المعلمين

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ته ښکته شوې، پيسې يې راکړې او د دار المعلمين په لويه جالۍ داره دروازه ننوتې، دوه پېرې مې نورې هم وکړې، د پوهنتون وخت وو، دريم ساعت چې انګليسي وو، شروع کېدو والا وو، چې ور ورسېدم، انګليسي استاذ دوه ساعته پرلپسې درس راکړ او تر ځنګ يې توصيه وکړه، هغه محصلين چې انګليسي يې ضعيفه ده، کورسونه دې شروع کړي، ځکه چې کمپيوټر ساينس او انګليسي لازم او ملزوم دي، له پوهنتونه د وتو سره سم د يو ټولګيوال، چې شريف نومېده، په مشوره يو انګليسي کورس ته لاړم، د کورس مدير يو ډبلی پيږ ګېره خرېلۍ ځوان وو، داسې خبرې يې کولې، چې ګمان به دې کاوه، ګوندې جنګ يې دی راسره!! خو ځه خير، دا چې انګليسي مې يوه اندازه ښه وه، نو د امتحان له ورکړې وروسته دکورس د ادارې لخوا د DEL په دوهم سمستر کې، د کلاس وخت مو د دوه نه تر درې نيمو بجو پورې وو، له کورسه ووتو، غرمه مهال کور ته لاړم، مور مې په سر ښکل کړم، وږمه هم تازه له مکتبه راغلې وه، مور مې ډوډۍ تياره کړې وه، ډوډۍ مو وخوړه، مور مې وويل:

- منصوره يو ګيسي داش راته واخله، چې ماشومانو ته د سوال کولو نه خلاصه شم، هره ورځ ورته يا خو په زاريو او يا هم لسګون ورکړم، نو بيا ډوډۍ نانوايي ته ويسي. په خندا مې وويل؛
- سمه ده مورې، وبه شي، سر د سبا به يې درته حاضر کړم، ډوډۍ مو خوړه، مور مې بيا راته وويل
- هغه د کور مالک راغلی وو، د کرايې پسې، ومې ويل
- هو لږ مخکې چې راتلم ومې ليدو، نو راته يې دکرايې په هکله وويل، په جيب کې راسره وې، ورته ورمې ورکړې!
- ښه سهي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چايو له څښلو وروسته له کوره د کورس په نيت ووتم، په کورس کې مې لومړۍ ورځ وه، د کورس د مدير په لارښونه يو ټولګي ته ننوتم، شريف ناست وو، په ټولګي کې درې نجونې چې تور حجابونه يې کړي وو او له شريف پرته څلور نور هلکان په ټولګي کې ناست وو، د شريف شا ته په يوه خالي چوکۍ کې کېناستم، يو دنګ تورکی هلک چې يو فايل او مارکر يې په لاس کې و را ننوت او صنف ته مخامخ د تختې ترڅنګ په ولاړ دريځ يې فايل کېښود، مارکر يې په ګوتو کې تاو را تاواوه، په موسکا يې وويل

- Hello every one, I am Nadeem Khan, your teacher of grammar and vocabulary section, let's start introducing your selves.

وار په وار ټول پورته شول، خپل ځانونه يې معرفي کړل، زما نوبت راغی، پاڅېدم ټولو ماته سترګې را واړولې، متوجې شول، دا چې يو تاثير مې واخست، په کراره مې وويل

- زما نوم منصور ... استاد مې په خبرو کې را ودانګل
- OK ...... No Pashto, just English ومې ويل
- OK sir, this is Mansoor Khan, son of Jamil khan, I am from Shewa district of Nangrahar province. دا څو جملې مې ډېرې په خوارۍ له ستوني نه ووتې، استاد له مارکره پوخ لرې کړ، په تخته يې يو څه ليکل وکړل او په لوړ غږ يې وويل
- Let's begin بيا يې د تقسيم اوقات مطابق يو ساعت درس راکړ، له ټولګي ووتو، په ټولګي کې شور جوړ شو، ما د کتاب پاڼې اړولې را اړولې، چې په ورو غږ چا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تکړه استاد وو، کنه!! ورومې کتل، له ما لږ لرې په بل قطار کې په چوکۍ کې ناستې نجلۍ، چې ټول ځان یې په تور حجاب پوښلی وو او یواځې سترګې یې ښکارېدې، مړاوې جذابې سترګې یې زما په لور وې او را کتل یې، بې له دې، چې څه ووایم، مخ مې واړاوه، په خپل کتاب ځان مصروفه کړ، بیا یې وویل:
- رکشه چلوې؟ په حیرانۍ مې ور وکتل!! ومې پوښتل
- ته څه پوه شوې، چې زه رکشه چلوم، موسکا یې وکړه!
- هسې ډېر ښه هم یې، په ټوله لاره دې، خپلې مخې ته کتل، مونږ خو چې اکثره رکشه وانانو سره وخېژو، نو ددې پرځای چې خپلې لارې ته وګوري، ټول پام یې په شیشه کې مونږ ته وي، ظالم ځامنو شیشې داسې په زاویو برابرې کړې وي، چې ولا که ترې خطا وخورې، سهار دارالمعلمین ته له تا سره تللي وو، ومې ویل
- هو! را یاد مې شو، نو تا خو په ټوله هلته یوه خبره هم ونه کړه، مسکۍ شوه، خبرو ته یې خوله جوړوله، چې په دروازه یو سمارټ ښایسته غوړ اوربل ځوان را ننوتو، ځان یې را معرفې کړ، د Conversation (محاورې)استاد وو، ده هم د هغه بل استاد په شان لمړی معرفت وکړ، له معرفت وروسته یې درس ورکړ او له ټولګي ووت.له رخصتیدو وروسته د کورس په کوچني پارکینګ مې خپله ولاړه رکشه چالان کړه، د کورس له دروازې لږ مې مخکې هم هغه نجلۍ ولاړه وه، لاس یې را اوږد کړ، اودرېدم.
- اوه! منصوره ته یې، تلم کور ته! رکشې ته ولاړه وم، په ملنډو مې وویل:
- ولې دا رکشه نده څه! په خندا شوه!!! او رکشې ته را وخته.
- رښتیا فکر کوم صنف کې د معرفت په وخت متوجې نه وې، چې زما نوم هم ندی درته یاد! ومې ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کیدای شي! مسکی شوه.
- جسمین! نوم مې جسمین دی، ومې ویل ډېر ښه نوم دی، خو مانا یې څه ده!
- یو ډول گل دی، چې ډېر ښه بوي لري، په لاره لاره راته جسمین وویل، چې پلار یې ډاکتر دی، اصلاً د لغمان دي، خو وړه په پېښور کې را لویه شوې او درې کاله کېږي چې دلته راغلي دي.

د یو ښایسته درې منزله تعمیر مخکې یې راته د اودرېدو دپاره وویل، له خپل دستکول څخه یې د پنځوس افغانیو لوټ را وویست، راته یې ونیو،
- دا واخله، شاید همدومره کېږي! ومې ویل
- واپس یې په بټوه کې واچوه، په خندا شوه!
- دا واخله او بله دا چې دې بټوې ته په انگلش کې پَرس وایي، لوټ یې را خطا کړ او همداسې روانه شوه، ما هم رکشه تاوه کړه او د خپل کار پسې ووتم.

* * *

د کلي بې غمه ژوند به مې کله کله لکه د پسرلي د سهارني میده باران چې یخ او خوږ ملایم شمال ورسره مل وي، په زړه را ووربېد، پلوشه مې اوس هم په یاد وه، خو پوهنتون، مزدوري، کورس، د کور د سودا غم، د خپلو درسونو د زده کولو غم، د ښار ژوند، مسوولیتونو او مجبوریتونو دومره مصروفه کړی وم چې ژوند راته د منډې میدان ښکارېده او ځان راته لوبغاړی! سهار به له کوره ووتم او ورځ به مې سلامته په ماښام وسپارله، د دوشنبې ورځ وه، سهار مهال وو، طبیعت مې نا سازه وو، له پوهنتون او کاره مې رخصت کړی وو، کلی او پلوشه مې په زړه ورېدل، له میاشتو وروسته یو ځل بیا مې په زړه کې د کلي او پلوشې د لیدو هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکېدلې وه، د کور مخکې د برق د پايې سره په خوا کې په پلچک ناست ووم، تليفون مې وکړنګېدو،له ځايه پاڅېدم، کمال وو، کور ته د ننوتو په حال کې ووم، چې اوکې مې کړ.

- سلامونه، کماله ستړی مشې، څنګه يې؟ په خندا يې وويل:

- غير حاضره ښه يې؟ بيخي ورک يې ښا! هېڅ د چا پوښتنه نه کوې، مسکی شوم،

- د خپل بام واورې زمونږ په بام مه را اچوه، تا مې له کومه پوښتنه وکړه، چې له ما ګيله کوې، په خندا يې را غبرګه کړه.

- اوه يار ته پرېږده دا خبرې! مونږ راځو ښار ته! زه او پلار مې، سودا اخلو، ماما دوي مې راغلي وو، د پلوشې واده يې غوښتو، مونږ هم ورته ورکړ، انشاالله بله جمعه يې له خيره واده دی، مغزو مې کړس وکړ.

- سمه ده، په خير راشئ، تليفون مې بند کړ، مور مې چې له ما څخه لږه په فاصله ناسته وه، لوښي يې وينځل، وارخطا يې را نه وپوښتل:

- څه خبره ده؟ څنګه دې دا رنګ يو دم والوتو.

په دواړه لاسو مې سر ونيو، سر مې چورلېدو، هر څه مې دوه دوه ليدل، ځای په ځای کېناستم، مور مې را منډه کړه، مخامخ راته په دواړه پښو کېناسته!

- منصوره خير دی؟ له اوښکو ډکې نم لرونکې سترګې مې پورته کړې، مور ته مې ور وکتل:

- مورې هغه پلوشه!!

سلګو ونيولم، له خولې مې خبره نه را وته، مور مې د ښې لاس ورغوی په غمبورو را کېښود او په مهربانۍ يې وپوښتل:

- منصوره! ووايه څه خبره ده؟

- مورې د پلوشې واده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مينې يواځينۍ راز داره زما مور وه. زما په درد له هر چا زيات او ښه پوهېده، له ما سره يوځای يې يوه شپه په سلگو وژړل، بيا يې د ټيکري په پېڅکه خپلې او زما اوښکې وچې کړې، پاڅېده له لاسه يې ونيولم او د پاڅېدو يې راته وويل، پاڅېدم.

- منصوره بېرته ورته زنگ ور ووهه، ورنه پوښتنه وکړه، څه وخت راځي، په زړه کې يې څه ونه گرځي.

موبايل کې مې د کمال نمبر ډايل کړ، ما کې نور د خبرو کولو تاب نه وو، موبايل مې مور ته ورکړ.

- واخله مورې ته ورسره خپله وغږېږه، د اوکی کېدو سره سم، مور مې وويل:

- کماله ځويه ښه يې؟ پلوشه، مور، پلار دې ټول ښه دي، شکر مونږ هم ښه يو، ښه، ښه، څه وخت؟ ښه په خير راشئ، په خير راشئ، نه! په کور کې دی، الله دې مل شه! موبايل يې بند کړ.

- واخله!

موبايل مې جېب کې واچو، مور مې وويل: هغوي راځي! ته ورشه، لږه سودا راوړه، چې غرمه يې مونږ کره ده او جامې دې هم بدلې که، چې بيا ورسره د سودا اخستو لپاره لاړ شې.

جامې مې بدلې کړې او د سودا د راوړلو په نيت له کوره ووتم. له بازاره مې سودا واخسته، کور ته راغلم، تره مې او کمال راغلي وو، تره مې رانه لاس را چاپېره کړ، په مخ يې ښکل کړم، له سترگو يې ناگهانه اوښکو کډه وکړه، له جېبه يې دستمال را وويست، خپلې اوښکې يې پاکولې، چې غريو نيولی يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما ځوې ورځ تر بلې خپل خدای بخښلي پلار ته ځي! زما په مخ يې لاس را تېر کړ، هم هغه مخ، هم هغه سترګې، هو بهو لکه ورور مې چې مخ ته ولاړ وي.

مور مې هم سلګو نيولې وه، د کمال سترګې هم نمجنې وې، ورېمه چې تازه له مکتبه راغلې وه، د کوټې په دروازه کې هک پک ولاړه وه، تره مې هغه هم په غېږ کې ونيوله، ښکل يې کړه، لور مې مکتبی شوې، له سترېي مشي وروسته کېناستو، مور مې چې چای دم کړی وو، چای يې راوړ، ومو وڅښلو، له ډوډی خوړلو او لمانځه وروسته مې رکشه وويسته او د بازار په لور وخوځېدو، رکشه مې په يو سرای کې اودروله، ځکه چې د جلال اباد ښار په بيروبار کې د موټر سره ګرځېدل سړی په عذابوي، سودا مو وکړه، کور ته راغلو، تره مې ټينګار کاوه، چې مونږ هم ورسره لاړشو، خو پوهنتون او کورس مې ورته په مخ کې د بهانې په شکل کېښودل، راسره يې ومنله، له خدای په امانی وروسته مې په رکشه کې تر هډې پورې ورسول، واپس د کور په لاره ووم، چې مبايل مې وکړنګېدو، نمبر نا اشنا وو، اوکی مې کړ.

- بلی، سلام!
- له هغې خوا ښځينه غږ راغی، په ناز يې وويل: منصوره ښه يې!؟ غږ مې وپېژندو، جسمين وه.
- شکر ښه يم، مهرباني!!؟
- څنګه کورس ته نه وې راغلی؟
- هسې لږ کار مې و، ولې؟
- دا کار دې دومره secret (پټ) و، چې ماته يې هم نه وايې!!؟
- نه، داسې څه نشته، څه کار خو نه وو؟ څنګه دې زنګ وهلی؟
- ولې؟ چې کار نه وي، نو د زنګ وهلو اجازه نشته څه!!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه داسې څه خبره نه ده او ها دا زما نمبر دې له کومه کړ؟
- هههه، نمبر!! امممم! ته څه فکر کوې، چې له کومه مې کړ؟؟
- نه پوهېږم.
- یو ځای کې لیکل شوی وو، ما هم له ځانه سره ثبت کړ، ما ویل ښایي په کار شي او دا دی په کار مې شو.
- ښه سمه ده، خو کوم ځای کې لیکل شوی، له نازه په ډک انداز یې وویل
- رکشه کې ناست یې؟
- هو
- رکشه ودروه! په حیرانۍ مې وپوښتل
- ولې!!!؟
- ته اودروه بابا! یو خو ته دا پوښتنې ډېرې کوې. ومې ویل
- ومې دروله!
- ښه دې وکړه، اوس نو له رکشې ښکته شه. او د رکشې شاته وګوره!
- هههه، خدای دې مړه که، هسې دې ځان هم ستړی کړ او زه هم، خو ویلي به دې وو، چې د رکشې له شا مې اخستی.
- خندنی شوه، منصوره سبا له خیره کورس ته راځې؟

په هو سره مې جواب ورکړ او خدای په امانې مو سره وکړه، رکشه مې چالانه کړه، لږ مخکې راته یو سړي لاس راکړ، یوه ښځه او ماشوم هم ورسره وو، صحت عامې ته تلل، هغوي مې صحت عامې ته ورسول، له هغې خوا هم سوارلي وه، ډک راغلم، د ماسخوتن اذانونو شروع وو چې کور ته ورسېدم، مور مې په غوسه وه چې ولې دې ناوخته کړه، په خندا مې ورته جواب وکړ، چې دا ښار دی، ټوله شپه پکې خلک ګرځي، خو هغې بیا ویل، چې دښار وضعیت چندان جوړ ندی او بله دا چې کور کې هغوي یواځې وي، نو باید چې وختي راشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماسخوتن له لمانځه وروسته مې مور د اوده کېدو لپاره ځایونه جوړ کړي وو، دا چې ډېر ستړی شوی، لاړم په خپل ځای وغځېدم، کلی مې په زړه راوورېد، دا معمولي خبره وه، ځکه چې هره شپه د خدای له یادولو وروسته به چې په خپله بستره وغځېدم، نو کلی، د کلي کوڅې، د سیند غاړه، کروندې، دیدن چوک، پلوشه، شبیر، کلیوال ملګري او د دغه ټولو سره تړلې خاطرې به مې لکه د فلم د صحنې سترګو ته کېده، خو د ځېنو موضوعاتو له کبله چې له کلي مو ښار ته کډه کړې وه، نور نو د خپل کلي د هډې په خوا مې هم قدم اېښودلو ته زړه نه ښه کېده، که څه هم اکثره وخت به شبیر او نورو ملګرو کلي ته د ورتګ لپاره ټینګار کاوه، خو ما به ورنه په یوه او بله بهانه ځان خلاصوه، مګر اوس له یو کال وروسته مې کلي ته ورتګ حتمي وو، ځکه چې د پلوشې واده وو، د هغه چا واده چې باید زما شوې وای، خو زما نه شوه، د بل شوه، ښایي یواځینی مئین به زه یم، چې د خپلې معشوقې په کوژده کې مې هم د میلمنو خدمت کړی و، د کوژدې ګل مې په خپل لاس ګرځولی و او دا دی اوس یې په واده کې هم زه خدمت کوم، د واده سودا او حتا چې د ناوېتوب جوړه هم ما ورته خوښه کړې وه، دا هر څه مې په چُپه خوله ځکه وکړل چې ما ورسره مینه لرله، دومره مینه چې د پلوشې د دوه سترګو په خاطر مې د هغې د پلار له یوه لوظه او ژبې خپله مینه قرباني کړه، هغه چې وایي: مینه قرباني غواړي، نو ښایي دا هم هغه قرباني وي.

د یو چا له لاسه ورکول دومره اسانه هم نه وي، هره ورځ انسان له یو عالم غمونو څخه تېرېږي، هره ورځ ورته داسې وي، لکه د زهرو ګوټ چې انسان یې په خندا خندا د چا لپاره کوي. له سترګو مې دانه دانه اوښکې وڅڅېدې، په لستوڼي مې سترګې پاکې کړې، ددې لپاره چې پام مې بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، فیسبوک مې خلاص کړ، مختلف پوسټونه مې له نظره تېر کړل، یو ملګري مې دوه بیتونه پوسټ کړي وو.

دا له باغه ده را وتې د ګل څـــــانګه ؟
او که ایښې په دېوال باندې هغې لاس
زړه مې تا پسې په دا رقم ته ســــوځي
لکه غوڅ شي په چاقو یا په شیشې لاس

داسې وو، لکه چې همدا اوس یې زما حال لیدلی وي او لیکلي یې وي، بیتونه مې دوه، درې ځلې ولوستل، موبایل مې بند کړ، بیتونه مې ددې له پاره چې په یاد پاتې شي، له ځانه سره تکرارول، چې اوده شوی ووم.

* * *

په ټولګي کې ناست وم، د ګرامر استاذ درس راکاوه، نور ټول پوره وو، یواځې جسمین نه وه راغلې، د ساعت د کتلو په نیت مې موبایل را واخست، چې پام مې شو، د جسمین درې زنګونه او مسیج راغلی وو، مسیج مې خلاص کړ، لیکلي یې وو، سلام تلیفون ولې نه جوابوې، نن نشمه راتلای استاد ته ووایه، چې غیر حاضر مې نه کړي، بای! موبایل مې جېب کې کېښود، استاد ته مې د حاضرۍ اخستلو په وخت مې وویل چې جسمین غیر حاضر نه کړي، د کورس د رخصتېدو څخه وروسته مې موبایل له silent mode (د لړزې) څخه وویست، د جسمین نمبر ته مې زنګ وکړ، جواب یې را نکړ، دستي یې مسیج وکړ، لیکلي یې وو:

- کال (زنګ) مه کوه، ورور مې راغلی دی! واپس مې مسیج وکړ.
- ښه! له کومه ځایه راغی، مسیج یې وکړ.
- وظیفه کې دی، بیا یې درته وایم!
- ومې لیکل، ښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسیج مې ونه لېږل شو، پیسې خلاصې شوې، که رښتیا ووایم، دا مې لومړی ځل وو، چې د یوې جینی سره مې په موبایل خبرې او مسیج کولو، نو یو څه خوند یې راکړ، ایزي لوډ مې وکړ، د مسیجو میاشتنی بنډل مې فعال کړ، مسیج مې وکړ:

- پیسې خلاصې شوې! ایزي لوډ مې وکړ، میاشتنی د مسیجو پیکیج (بکسه) مې فعال کړ.
- هههه، ولې؟ څه لپاره!؟
- هسې!!!
- ښه سمه ده یار! اوس مسیج مه کوه، بیا ماښام مسیج کوم درته بیا گپ لگوو.

د هغې لخوا ماته د یار کلمې استعمالولو یو څه حیرانه کړم، عجیبه احساس مې وکړ، ماښام ته په بې صبرۍ منتظره ووم، لحظه لحظه مې شمارله! له ماښام اذانه وروسته مې ورته مسیج وکړ، جواب یې را نکړ، د جسمین جواب ته منتظر ووم، ناوخته یې مسیج راغی، لیکلي یې وو:

- Sorry (وبخښه) یار! ورور مې وو، د هغې سره ناسته وومه، اوس free (اوزگاره) شوم، په جواب کې مې ورته ولیکل .
- یار!!؟
- هههههه یار، دا زمونږ د پېښور د وخت عادت دی، تقریباً درې کاله کېږي، له پېښوره راغلي یو، کور کې هم ورونو ته، خویندو ته، ټول یو بل ته د یار کلمه استعمالوو.
- اوو هههه! سمه ده، څنگه یې؟ ولې کورس ته نه وې، راغلې؟
- لږ مې طبیعت خراب وو، ځکه!
- یوه خبره وکم؟ راته یې ولیکل
- وکه!! امممم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- جسمین! پوهېږې په سترګو کې دې څه بل شان کیف پروت دی، چې ورګورم، نو زه پکې خپل ځان وینم، مړې، معصومې سترګې چې په لومړي ځل مې در وکتل، نو د سکون احساس مې وکړ، یو عجیبه شان خوند یې راکړ! په خندا شوه
- هههههه رښتیا! یو Promise (وعده) راسره وکه، چې زما مسیجې به چاته نه ښایې.
- سمه ده نه یې ښایم!
- منصوره هغه مدیر ډېر عجیبه ندی، زه خو چې ورته وګورم، ورنه یرېږم، چې خبرې کوې ته به وایې، چې جنګ کوي.
- هههههه! ته صبر سبا ورته شیطاني وکړم.
- نااا!! ګپ مې لګو، ناڅاپه مې ورته ولیکل!!
- جسمین! یوه خوله خو راکه!
- څه!! Kiss (ښکلول) ښایې؟
- هو!
- ته څه ساده یې، د پردیو جینکو نه څوک کِس نه غواړي، هغه خو خلک خپل نامزاد ته ورکوي، ته خو مې څه نامزاد نه یې، چې درته کِس درکم. بیا یې ولیکل، منصور!!! Do you love me? (ایا ما سره مینه لرې؟) فکر مې وکړ، جسمین ته هو کول به د خپلې مینې او پلوشې سره خیانت وي، نو ځکه مې ورته ولیکل
- نه یار، زه د بل چا سره مینه کوم، پلیزز خفه نشې!! مور مې غږ وکړ، منصوره ډوډی نه خورې، ډوډی مې وخوړه، موبایل مې را واخست، جسمین لیکلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوکی اوکی، نو پرابلم، څه خبره نشته، زه هم په مینه او واده کولو چندان باور نه لرم، ژوند کې باید انسان له مینې او واده لرې اوسي، خو ځه خیر، منصوره ماته دې د خپل ژوند کیسه وکه، ومې لیکل
- څه به پرې وکړې!
- هسې شابه کنه!
- ما هم له پیله تر پایه کیسه ورته وکړه، خو چې کله مې د ژوند وروستۍ شپې ورځې ورته تشریح کولې، نو راته یې ولیکل!
- منصوره! ته پوهېږې، د افغانستان خلک ډېر بد خلک دي، دلته بېخي د انسان قدر نشته! زه چې له پاکستانه راغلې یم، نو دلته هېڅ زما ژوند نه تېرېږي، ماته مې د سکول او د کالج د دورې ملګري يادېږي، پاکستان خو پاکستان دی، قسم دی که د پاکستان يو موټۍ خاوره د ټول افغانستان په بدل کې ورکم، پدې خبره یې یو څه احساساتي شوم، په غوسه مې ورته په پرلپسې څو مسیجو کې ولیکل.
- ګوره جسمین! ددې وطن ټول خلک بد ندي او که بد هم وي، نو دوي ندي ملامته! ځکه چې څلوېښت کلن جنګ ددې بې چاره ګانو هرڅه اخستي دي، بې سوادي پکې بیخي عامه ده، نو ددوي د جهالت يواځينۍ علت د علم نشتون دی، انشاالله چې د وخت سره به هرڅه سم شي! او پاتې شوه د وطن د خبره نو ستا وطن افغانستان دی، پاکستان نه دی، چې داسې یې دفاع کوې او اینده کې ی نوم راته وانخلې.
- هېڅ هم نه سمېږي، دا چې څنګه دي، همداسې به وي، جاهلان هر وخت جاهلان وي! او ها د پاکستان بد بیا ونه وایې، افسوس ستا په حال باندې، ته هم ددې نورو په شان یې! ما ویل ته به سم یې، خو ته ددوي نه هم بد تر وختي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- گوره! ماته هرڅه وایې، ووایه! زه به یې تېر کړم، خو خیر دی زما وطن ته څه مه وایه! زما په حال افسوس مه کوه، په خپل حال افسوس وکه، چې د خپل هېواد په ځای د پردي هېواد پلوي کوې.
- هههه، منصوره پوهېږې ستاسو غټ مشکل څه دی، تاسو ډېر احسان فراموشه خلک یاستئ، تاسو ته چا دا دېرش، څلوېښت کاله پنا درکړه، پاکستان ستاسو دښمن نه بلکی دوست دی، ومې لیکل
- پلېزز!! نور بس که، نور راته دا بېکاره نوم مه لیکه!! او نه هم د افغانستان بد ووایې نور پلیزز!!
- اخلم، اخلم!! او ترهغې به د افغانستان بد وایم، چې ترڅو ته د پاکستان بد وایې!! پرېږده دا خبرې، مونږ ولې دا بحث کوو، بیا یې په خندا شوه، ویې لیکل: گوگوشتو ته اوس د یو افغانستان لپاره زما غوندې ښایسته نجلی سره جنگ کوې!! دا چې ډېر احساساتي شوی ووم، ومې لیکل
- تا غوندې سل ښایسته جینکی دې زما د وطن پښو ته حلالې شي
- ښه! ټیک ده، ماته نور مسیج ونه کړې، بای!

په غوسه مې موبایل بیخي بند کړ، خوا ته مې کېښود او په خپل ځای وغځېدم، داسې مې احساسوله، گوندي د وطن لپاره مې کومه لویه قرباني ورکړې وي.

له سهاره تر ماسپښینه د جسمین هم کوم مسیج رانغی، ما هم مسیج ونه کړ، کورس کې مې هم ونه لیده، مازیگر وو، چې زنگ راغی، جسمین وه، اوکی مې کړ:

- سلام منصوره څنگه یې؟
- ښه به یم نو! تا ته یې څه! په مایوسه انداز یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تا خو زنګ او مسيج ونه کړ، مجبوره شوم، خپله مې درته وکړ، بېګانی تاوو مې لا هم په زړه کې وو.
- بد دې وکړ، مه وهه نور زنګ!!
- اوه! بخښنه غواړم!

قطع يې کړ، پدې کار مې يو څه پښېمانه شوم، واپس مې ورته زنګ وکړ، جواب يې نه راکاوه، درې، څلور زنګونه مې مسلسل ورته وکړل، خو جواب يې را نکړ، مسيج يې وکړ:

- مه کوه زنګ، که نه نو بلاک کوم دې، ورته ومې ليکل
- بخښنه غواړم، خير دی، يو ځل مې زنګ جواب که!
- نه بس دی، منصوره هرڅه ختم شو، تا مې زړه را مات کړ!
- پليزز! کنه، داسې مه کوه، که نه نو! ژاړم درته!
- ژاړه کنه! دا ما چې د شپې ستا له مسيجه وروسته وژړل، تا ماته څنګه خبرې وکړې، ودې ويل چې ما غوندې جينکی د خپل وطن پښو ته حلالوې، ومې ليکل
- معاف مې که، نو! بس احساساتي شوی ووم! مسيج راغی
- منصوره! I love you!! (مينه درسره لرم)، ښايي نه مې غوښتل چې دا موقع له لاسه ورکړم، ځکه بېخي يواځې شوی ووم، ما هم يو چا ته ضرورت درلود، چې خپل راز و نياز ورسره وساتم، نو په همدې خاطر مې ورته وليکل:
- Love you too (زه هم مينه درسره لرم) ، جسمين راته لدې وروسته په هره خبره کې جان مې او زړه مې ليکل، د شپې ناوخته يوولس نيمې بجې وې، ورته مې وليکل:
- جسمين! يوه خبره درته وکم، زه غواړم تا وګورم! ښکل دې کړم، لاس درنه چاپېر کړم، په خندا يې وليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بس بس! اوله خبره به دې ومنم، سبا له خيره! سهار مور دوي مې کلي ته ځي، زه کور کې يواځې يم، راشه ومې ګوره، خو له لرې نه، ځکه چې مخامخ زمونږ کور ته هغه زمونږ د صنفې مينې دوي کور دی، هر وخت د بام له سره ما سره خبرې کوي، هسې نه هغه دې وګوري، شکمنه نشي، راشه او په دروازه کې به درته اودرېږم، ومې ګوره، په خوشحالی مې وليکل
- سمه ده! تينکس
- خوشحاله شوې، ژوند مې! ومې ليکل
- هو! ويې ليکل:
- پوهېږې! ما له ځانه سره وعده کړې وه، چې څوک زما په ژوند کې ما ته له هرچا او هرڅه زيات ګران شي، نو زه به ورته بيا "ژوند مې" وايم، يانې ماته له هرڅه او هرچا زيات ګران ته يې، ښه سمه ده! ژوند مې! شپه ناوخته ده، اوس به اوده شو، Good night (ښه شپه).

* * *

د چهار شنبې ورځ وه، لس بجې له پوهنتونه کور ته راغلم، مور مې او ورې خورکۍ ځانونه تيار کړي وو، ماته يې هم د تيارېدو وويل، ځان مې تيار کړ، دروازې ته مې غټ قلف ور واچو، د خپل کلي په هډه کې په موټر کې کېناستو، کلي ته د تګ په نيت! زړه مې تنګ او پريشانه وو، هېڅ مې زړه نه غوښتل چې کلي ته لاړ شم، خو مور مې او ورړمه خوشحاله معلومېدل، د بهسودو له پله واوښتو، چې موبايل ته مې مسيج راغی: جسمين وه!

- چرته يې؟ زه دې تر اوسه په تمه يم! ومې ليکل
- Sorry يار! مونږ لاړو کلي ته! په حيرانی يې وپوښتل:
- کلي ته د څه لپاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هسې يو واده دی، د هغې لپاره!
- ښه سمه ده، واپس څه وخت راځې؟
- شنبې ورځ او يا هم د جمعې مازيګر، ګورو نو!

په ټوله لاره مې د جسمين سره مسيجې وکړلې، په لاره هېڅ پوه نه شوم، د ولسوالی بازار کې له موټره ښکته شو، د خپل کلي په لاره سم شو، کلی هم هغسې وو، هېڅ تغير پکې نه وو راغلی، اکثره ملګرو او خپلوانو به چې وليدم، را غاړې به وتل، په خندا به يې غبرګه کړه، ښاری شوی يې ښاا!! ما به هم په موسکا بدرګه کړل، د تره کور ته ورسېدو، د زړه درزا مې په زياتېدو وه، د کور په دروازه له ننوتو سره سم مې په پلوشې نظر ولګېد، هم هغه څېره؛ هم هغه نظر؛ هم هغه کاته، هېڅ تغير يې نه وو کړی، يواځې مې د هغې په سترګو کې هغه پخوانۍ ځلا ونه ليده! مسکی شوه، جارو يې وغورځوله، راغله زما د مور لاسونه يې ښکل کړل، ماته يې هم د سترې مشې په پار لاس راکړ، له ورېمې يې لاسونه تاوو کړل او ښه يې جوخته د زړه پورې ونيوله، زما چې ټول پام په پلوشې وو، د مور مې غږ مې واورېد:

- منصوره تاته وايي، پام مې شو چې د تره ښځه مې ماته سترې مشي وايي، د تره ښځې مې په سر ښکل کړم، راځئ راځئ، ښه شوه چې په خير راغلئ، سهار مې د پلوشې پلار ته وويل، چې څنګه ددې خلکو درک نشته! مور مې وويل
- ولا! خورې داسې ده، چې د هلک پوهنتون دی، ورېمه هم مکتب ته ځي، نو په دې خاطر، نن مې هم نا څاپه دوي په مخه کړل، ما ويل ځئ چې ځو.
- ښه مو وکړل کنه! ما ته يې مخ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- منصور جانه د ښار هوا درته ښه شوې، رنګ دې هم ښه شوی او ماشاالله باډي دې هم ښه شوې، په خندا مې ورته وویل:
- څه خبر نو....

له غرمې وروسته مې کمال له ځانه سره ملګری کړ، لومړی د شبير ليدو ته ورغلم، شبير مې په ليدو هک پک حيران له ځايه پاڅېدو، غېږ يې رانه چاپيره کړه، په ژړغوني غږ يې وويل
- ورور مې راغلی دی! په خندا مې وويل
- نو چې ورور راشي خلک ژاړي، سترګې يې وچې کړې
- نه يار دا خو د خوشحالی اوښکې دي، راځئ!

شبير دوه کټونه دېرې ته را وويستل، وروره بس ستا له تلو وروسته خو بېخي داسې شوم، لکه بې پلاره او بې موره، بس د خدای شکر چې دا د کلينيک وظيفه مې ده او باد له ماسپښينه درالمعلمين ته ځم، نو يو څه ساعت مې تېر دی. يوه شېبه ناست وو، ګپ مو ولګو، کمال شبير ته واده ته د راتګ لپاره هم وويل، چې سبا بيا حتماً راشي، له شبيره مو اجازه واخسته، له هغه خايه ووتو په نورو کليوالو او خپلوانو هم وګرځېدو، ټول مو وکتل، ماښام ناوخته کور ته راغلو، تره مې هم راغلی وو، ټول په کوټه کې ناست وو،تره مې يو دم يو سوړ اسوېلی وکړ، څه ژوند دی، تېر کال دا وخت مې ورور له مونږ سره وو، همدا شپې ورځې وې، چې تاسو راغلي وئ، خدای دې وبخښي! د پلوشې واده کې به يې نصيب نه وو، نو.

له ډوډی وروسته د ميلمنو خونې ته د لمانځه لپاره لاړم، د ماسخوتن لمونځ مې وکړ، د سلام له ګرځولو وروسته مې دعا کوله، چې پلوشه خونې ته را ننوته يو څه بسترې ورسره وې، درب شو، د خونې په منځ کې کېښودل، ما چې وروکتل، نو به ډېره موده پس يو ځل بيا ورسره سترګې په سترګې شوم، پلوشې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مه راته ګوره، ډېر په خواری مې زړه صبر کړی! مسکی شوم
- مګر پلوشې زما زړه اوس هم صبر نه دی، ویې خندل!
- ځکه دې، د جسمین سره د مینې کیسې کوې، په حیرانی مې وپوښتل:
- تاته چا وویل:
- هههه، هغه موبایل دې چارج ته ایښی وو، د هغې مسیجې راغلې وو، ویل یې جواب ولې نه راکوې، خفه یم درپسې ژوند مې!!
- ومې ویل، نه پلوشې! تر څو چې ژوندی یم، ستا ځای بل څوک نشي نیولای، ومې ویل، پوهېږې اوس مې هم له خدایه ته په دعا کې وغوښتې! مسکی شوه!
- نه منصوره! هغه څه چې د بل وي، هغه مه غواړه، اوس نو خیر دی، د جسمین سره مینه وکه، زما ځای هغې ته ورکه. ترخه مسکا مې وکړه، امکان خو نلري، ځکه چې ستا په وړاندې هره ښکلا تته شي او هره مینه بې مانا! وعده کوم، چې لدې وروسته به هم له خدایه تا غواړم، حتا ستا د نکاح په وخت کې چې ټول دعا ته لاسونه لپه کړي، ستا او د شاکر د ګډ خوشحاله ژوند لپاره دعا کوي، نو زه به په هغه وخت هم له خدایه تا غواړم، چې کله دې وروستی مخه ښه وي او ډولۍ کې دې کینوي، نو د وروستي نظر کتو کې به هم دا احساس درکم، چې پلوشې مینه درسره لرم او ستا ځای هېڅوک نشي نیولای.

یو څه غریو نیولې شوه، بې لدې چې څه ووایي، له خونې ووته! سبا سهار ټولو د واده د مراسمو د شروع تیاری کاوه، ورو ورو خلک زیات شول، میلمنو ته له ډوډی ورکولو وروسته نږدې دوه بجې وې، چې خلک د ناوې پسې راغلل، ملا صیب نکاح وتړله، له نکاح وروسته ګلپوش موټر حویلی ته ننوت، پلوشه چې سپینه مکسي یې په غاړه وه، موټر ته د ختو په وخت یې داسې خوار را وکتل، لکه مرغی چې د ښکاري په دام کې را ګېره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلو نورو ملګرو مرغيو ته له ناهيلۍ په ډکو سترګو ګوري، له سترګو يې څو اوښکې وڅڅېدې، ما ددې لپاره چې پلوشې ته دا احساس ورکړم، خفه نه يم بلکې ډاډه يم او په خپل لوی خدای مې اوس هم دومره پوخ يقين او باور دی، چې تا به ما ته راکوي، د خندا کولو هڅه مې وکړه، لکه شاعر وايي

چې د رخصت په وخت کې تا ته تسلي درکم
د ژړا وخت وو، په پوره کــمال مې وخــندل

د زړه په زور مې وخندل، سره لدې چې زړه او ذهن مې هېڅ اماده نه وو، سترګو مې د خندا د دروغجنۍ ګواهي ورکوله، رښتيا هم پدې وخت کې خندا يا مسکا کول، يو لوی هنر،کمال او فنکاري وه چې ما کوله، پلوشې چې لا هم ماته کتل او زما د دروغجنې خندا د تمثيل تماشه يې کوله، د مننې او بخښنې په پار يې په کراره باڼه په سترګو راښکته کړل او واپس يې پورته کړل، موټر کې کېناسته، دوه ښځې نورې هم ورسره په شاته سيټ کې کېناستې ، موټر همداسې په ريورس له کوره ووتو، مخه يې تاو کړه او له ټولو موټرو مخکې کرار کرار روان شو، نورې موټرې هم ورپسې روانې شوې او ورو ورو زمونږ له سترګو پنا شول.

د تره په کور مې يوه داسې خاموشي خوره شوه، چې د سړي پکې ساه بنده بنده کېده، ميلمانه ورو ورو په کمېدو وو، ما او کمال د کراکری سامان راټول کړ؛ په زرنج کې مو بار کړ او په خپل خاوند مو وسپاره. په کور کې زما د تره دښځې دوه خورزې او زما خور لګيا وو، د قلا حوېلی يې جارو کوله، د تره ښځه، مور مې او د کمال خاله درې واړه چې د لمر وروستی وړانګې پرې لګېدې مخامخ په کټ کې خفه ناست وو، تره مې چې اودس يې کړی وو، تشه لوټه په لاس د توت د ونې له خوا پورته شو، په ګڼه ګيره يې لاس را تېر کړ، ماته يې را غږ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- منصوره ځویه ته دلته راشه!
- ها کاکا څه وایې؟ دواړه له کوره ووتو ، د کور د دروازې مخکې یې، له لاسه ونیولم، دلته اودرېږه، سترګې یې اوښلنې شوې، ورو یې وویل
- مننه ځویه!! ته پوهېږې، د پلوشې د رخصتولو تر شپېبې پورې مې سترګې په تا وې، چې خدای نا خواسته کوم غلط قدم وا نخلې، خو بیا باور مې هم درباندې دومره و چې په پوره ډاډ مې زړه ته تسلي ورکوله چې دا زما وراره دی، هېڅکله به کوم غلط اقدام نه کوي، زه پوهېدم چې ستا پلوشه خوښېږي، مینه ورسره لرې او پدې هم پوهېدم چې پلوشه هم تا غواړي، خو تاسو دواړو هرڅه د ماشومتوب له رشتې او دیو پښتون پلار له خولې د وتلي لوظ قرباني کړل، زه ستاسو ګناهګار یم، خو باور وکه، له تاسو زیات زه زورېدلی یم، لاس یې را نه تاو کړ، ځان طرف ته یې جوښت کړم، ژوندی اوسې ځویه! چې زما باور دې مات نه کړ او زما پښتني غرور دې په خپل ځای پاتې کړ، څه چې ځو! د ماښام د لمانځه وخت دی. د تره سره مې یو ځای ډېره موده پس د کلي په لوې جومات کې د ماښام لمونځ وکړ، د جمعې ورځې په سهار مې کور ته د تګ لپاره ډېر ټینګار وکړ، مګر تره او د تره ښځې مې پرېنښودو او له غرمې وروسته یې د تګ وویل، بهر د پټیو په پوله یواځې ولاړ ووم، چې موبایل مې وکړنګېدو، د جسمین زنګ وو، اوکې مې کړ یو څه په غوسه یې وویل:
- سلام! چرته یې؟ ته دې موبایل وګوره، څومره مسیجې مې درته کړي، په بې پروایۍ یې مې ورته جواب ورکړ
- مصروفه ووم!
- نو، چې مصروفه وې، یو ځل خو سړی وایي، چې مصروفه یم، زما دې سودا کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېرې سودا ګانې مه کوه، ژوندی یم، مړ نه یم! او که مړ هم شم څه دنیا را باندې نه ورانېږي، په غوسه یې وویل
- Shut up (چُپ) داسې خبرې مه کوه، ګوره مړ کوم دې! ښه دا راته ووایه چې راغلی یې او که نه!
- نه! درځم له خیره مازیګر! په خندا شوه
- ښاا!! په خیر راشې جان مې! زه به دې په تمه یم

قطع یې کړ، موبایل مې په ګوتو کې څرخولو، چې بل زنګ راغی، مګر دا ځل نمبر نا اشنا وو، اوکی مې کړ.

- بلی! د شبیر غږ وو.
- چرته یې منصوره؟ زه دې په تمه یم، راځه کنه!
- ښه درځم، ته چرته یې؟
- کور کې یم، راځه!

د سمه ده، په ویلو مې موبایل قطع کړ او د شبیر د کور په لور وخوځېدم... شبیر سره تر ډېره ناست ووم، خوشحاله و، ویل یې چې د نسرین مور زمونږ د رشتې لپاره ها کړې ده او که خدای کول، لږ را جوړ شو، نو کوژده کوو، ددې خبر په اورېدو زه هم ډېر زیات خوشحاله شوم، دا چې غرمې ته یو څه وخت وو، شبیر سره یو ځای د خپل پخواني کور په لور وخوځېدم، هر څه هم هغسې وو، د کور په مخ کې د ولې په غاړه مې چې کوم، نیالګي کرلي وو، یو څه غټ شوي وو، یوه شېبه د خپل کور مخې ته ناست ووم، دې کور سره زما ټول ژوند او د ژوند ټولې خاطرې تړلي دي، شبیر هم چُپه خوله ماته کتل، واپس له هغه ځایه د شبیر دوي د کور په لور وخوځېدو، غرمه مې د شبیر سره وکړه، بیا مې ترې اجازه واخسته د جمعې د لمانځه نه وروسته د ښار په نیت د تره له کوره ووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې نیمې بجې وې، کور ته ورسېدو، ډېر ستړی ووم، په کوټه کې مې تکیې ته ډډه وهلې وه، موبایل مې را واخست جسمین ته مسیج وکړ

- سلام! شیبه وروسته جواب راغی
- علیکم، را ورسېدې؟
- هو، چرته یې؟
- کور.. ولې؟ ومې لیکل
- زړه مې تنګ دی، بیخي تنګ!! ونه چوي!! مسکی شوه!
- زه به دې ښه کم کنه! ومې لیکل
- هغه څنګه!!
- راشه، جان مې! زمونږ کور خوا ته، ما وګوره، خپله به ښه شې، زړه نا زړه مې ورسره ومنله، له کوره ووتم، د جسمین دوي د کور په طرف روان شوم، په لاره ووم، د هر قدم په اخستو به مې ورته ویل چې دلته ورسېدم او دلته ورسیدم، ویې لیکل، سمه ده جان مې! چې زمونږ د کور خوا ته ورسېدې، نو ماته مسیج وکه او لرې اودرېږه، چې څوک راباندې پوه نشي او ها رشتیا، ټول خپلوان مې وایي چې جسمین ډېره ښکلې ده، هر څوک چې مې ویني، نو راباندې مئینېږي، خیر دی ما مه ګوره، هسې نه چې راباندې مئین شې، په خندا مې وویل:
- دومره هم ښایسته نه یې نو، خپلوان دې غلط پوه شوي دي او یا هم د هغوي ذوق ډېر بې خونده دی، چې ما غوندې حسن شناس دې وګوري او د ښکلا تصدیق دې وکړي، نو بیا سمه ده!!
- ښا! چرته ورسېدې؟
- بس د کوڅې خوله کې یم، را ووځه!!

په دروازه مې سترګې ګنډلې وې، د لاسي ساعت ثانیه ګر په کراره مزل کاوه، لکه وخت چې درېدلی وي، د دروازې د خلاصېدو غږ شو، دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه شوه، سپین، نرم، گرد مخ چې په خندا کې د اننگو ژوروالي يې د شاعر ددې بيت له مخې د جسمين ښکلا د ښکلا په معيار برابروله

چې وخاندي بارخو کې يې پيدا شي ژوروالی

پوره شي برابره په مـعيار د ښــــايســــــتونو

په مړو سترگو کې يې دمعصوميت ځای شوخۍ نيولی وو، هک پک ووم، په ځان نه پوهېدم، داسې احساس مې وکړ، گوندې بيا مئين شوم او د جسمين خبره سمه وه، چې ما هر څوک ووينې، نو په ما مئين شي، د هغې دا دعوه پر ځای ځکه وه چې خدای ورته يو داسې حسن ورکړی وو، چې په غَرَه کېدو ارزېدو، جسمين له خندا شنه وه، لاس يې په هوا کې په داسې توگه خوزولو، چې د لاس گوتې او ورغوی يې ماته مخامخ وو، زه همداسې د دروازې په طرف ور روان ووم، چې يو دم جسمين دروازه بنده کړه، مخ مې واړو، د کوڅې په بر سر کې يو پهلوان وړوکی هلک روان وو، زما څنگ ته په راتگ يې سلام وکړ او د جسمين دوي د کور دروازه يې وټکوله، د موبايل سکرين ته مې وکتل، د جسمين مسيج و، ليکلي يې:

- جان مې! بس دی لاړشه نور! دا چې راغی، دا مې وړوکی ورور دی.

زه هم بې حسه او بې دمه د کور په لوري لاړم، حيران ووم، دې ته مې سوچ کاوه، چې يو څوک چې دومره ښايسته مخلوق پيدا کوي او دومره ښه ذوق لري، نو هغه به خپله څومره ښايسته وي.

* * *

ورځې شپې پرلپسې سبا کېدې، ورځ تر بلې مې د جسمين سره اړيکه خوږېدله، جسمين به هره شيبه په جان، قربان بدرگه کولم، کله کله به مې شک پيدا شو، گوندې دا جينۍ د وخت تيری (ټايم پاس) لپاره ماسره اړيکه پالي او دا هرڅه يو تمثيل دی، خو بيا به مې بيرته پدې بد فکر خپل ځان ښه ډېر ورټلو، کله کله به مې ځان ته پيغور ورکړ او ځان به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملامته کړ، چې ولې دې د پلوشې سره کړی لوظ مات کړ، له ځان سره مې اراده وکړه، چې زه به د جسمين په نظر کې ځان بد ثابتوم او چې په هره طريقه وي، د هغې زړه به له ځانه توروم، چې ما پرېږدي او پدې هم ښه پوهېدم، هغه کار تکراروم، کوم چې زما تره وکړ او مونږ ته يې په زړونو د عمرونو داغ را کېښود. نه پوهېږم چې دا احساس څنګه راکې پيدا شو!؟ که څه هم ما يو ځل د بيلتون عذاب تجربه کړی وو، عادت وم، خو د جسمين لپاره مې زړه درد کاوه او په هغې مې دا درد نه لورېده، خو ما څه کړي وای، له ما سره بله لار نه وه، ځکه چې ما لوظ کړی وو او لوظ مې هم د يوه داسې چا سره کړی وو، چې ما د هر لمانځه په دعا کې له هرڅه زيات که څه غوښتي وو، نو هغه وه! ما جسمين ته وويل، چې زه نامزاد يم، لمړی خو جسمين دا خبره په ټوکو واخسته، خو وروسته وروسته مې دې حقيقت منلو ته راضي کړه، جسمين زما په دې خبره له ما ډېر زيات خفه شوه، تر څو ورځو يې نه مسيج وکه او نه هم زنګ! دا څو ورځې په ما لکه د قيامت تېرې شوې، ما هم پدې خاطر مسيج نه کاوه، چې پرېده هرڅه ختم شي، ځان مې ورځ تر بلې بد ايسيده، چې ولې مې د هغه چاسره داسې کار وکړ، چې زه ورته له ځانه زيات ګران ووم، ما ته يې دومره حوصله راکوله، چې له ځانه به مې تمه پيدا شوه او ګومان به مې وکړ، چې د هر کار کولو توان لرم او زما لپاره هر څه ممکن دي، بلاخره طاقت مې ونشو، بله ورځ مې ورته مسيج وکړ

- جسمين!! مسيج يې وکړ
- څه دي؟ ماته مسيج مه کوه، پليزز! زه نه غواړم چې تا سره خبرې وکم.
- يو ځل زما خبره واوره!! خير دی، جمسين! مينه درسره لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو! ماته پته ولګېده چې ځومره مینه راسره لرې! ما په تا ځومره اعتبار درلود، ځومره معصومه را ښکارېدې، ما له تا هېڅ دا تمه نشوه کولای، دومره غټه خبره دې، له مانه ولې پټه کړه، ولې؟ ولې؟ ها افففف، بل مسیج راغی
- ګوره منصوره! ته نامزاد یې، له ما نه لاس واخله، زه نور نه غواړم، چې تا سره اړیکه وپالم، په تا که حق دی نو صرف او صرف ستا د نامزاد دی، زه نه غواړم چې د بل چا په حق کې ظلم وکړم.

څو نورې مسیجې مې ورته وکړې، خو جواب یې را نکړ، موبایل مې ناهیلې جیب کې واچو، یوه شېبه خو په خپل کړي کار پښېمانه ووم، ولې مې جسمین ته دروغ وویل، چې زه نامزاد یم، خو بیا مې فکر کاوه، چې ماته له هرڅه زیات د پلوشې سره کړې وعده مهمه ده او زه به د هغې سره کړې وعده هېڅکله ماته نه کړم، په عجیبه کشمکش کې را حصار ووم، نه پوهېدم، چې څه کوم او ولې کوم؟؟ سره لدې چې د پلوشې سره کړې وعده مې نشوه ماتولای، خو داسې یو چا ته مې ضرورت هم درلود، چې ما ته مینه راکړي؛ ما ته حوصله راکړي؛ زه ورسره د خپل ژوند لحظه لحظه او په هغو لحظو کې واقع کېدونکي ښې او بدې حادثې شریکې کړم. اراده مې وکړه، چې بیرته ورته وایم، ما درته دا هرڅه دروغ وویل، زه نامزاد نه یم، خو بیا مې فکر وکړ، که زه داسې وکړم،نو ښایي د جسمین باور په مکمله توګه راباندې ختم شي، هېڅ مې فکر کار نه کاوه، خو غوښتل مې چې هر څنګه وي، زه باید جسمین سره واپس اړیکه جوړه کړم، نو دا پرېکړه مې وکړه، چې دا د نامزادۍ ډرامه به غزوم او په اخره کې ورته وایم، چې زه د پلوشې پرېښودو ته تیار یم، خو ته صرف له ماسره د کوژدې لپاره ها وکړه، نو هم هغه وو، له جیبه مې موبایل را وویست

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول مې ورته څو مسيجې وکړې، ځواب يې را نکړ، بيا مې زنګ ور وواهه، زنګ يې را قطع کړ، مسيج يې وکړ:

- منصوره! زه ژاړم او ستا د لاسه ژاړم، ته پوهېږې ما درسره څومره مينه لرله، خو ته... پليز مسيج مه کوه! پرېده چې وژاړم، شايد ځانته په دا ډول سزا ورکولو له دې پېغوره خلاص چې تا غوندې پست انسان سره مې مينه کړې، مسيج مې ورته وکړ:
- ګوره ژاړې به نه! که نه نو مړه کوم دې!!
- راشه مړه مې که، لدې ژوند نه خو مرګ ښه دی. ورته مې وليکل
- زه زنګ در وهم، اوکی يې که، غواړم خبرې درسره وکړم، ښې ډېرې خبرې، راته يې وليکل
- مه را وهه! زه نه غواړم درسره خبرې وکم، ومې ليکل
- پليززز!!!! يو ځل!
- ښه سمه ده! ته زنګ مه را وهه، وروسته درته زه زنګ در وهم!

ورته په تمه شوم، تر ماښامه يې زنګ ونه وهلو، مسيج مې ورته وکړ، چې زنګ دې ولې ونه وهلو، نو په جواب کې يې سبا د زنګ وهلو وعده راکړه، خو د سبا وعده بله ورځ او د بلې ورځې وعده بلې ته ځنډېده، جسمين کورس هم پرېښود، يوه ورځ مې ورته مسيج وکړ، نو راته يې وويل، چې زه نمبرې بدلوم، نور نو بس دی! ډېر عذر و زاری مې ورته وکړې، خو ويې نه منله! په هغه شپه مې په يو بل نمبر ورته مسيج وکړ،

- سلام! جواب يې را نکړ! څو پرلپسې مسيجې مې ورته وکړې، بيا مې ورته وليکل: منصور ډېر بد هلک دی، هغه تا دهوکه کوي.... جواب يې راکړ
- ته څوک يې چې زما منصور ته بد وايې، هر څه چې دی، تا ته يې څه! ورته مې وليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته ډېره ساده يې! هغې درسره څه وکړل او ته اوس هم وايې زما منصور! ته پوهېږې هغې تاته دروغ ويلي دي هغه نامزاد نه دی، له تا نه يې د ځان د خلاصولو په خاطر يې دا هرڅه وکړل. په غوسه يې را وليکل
- منصور ماته هېڅ کله دروغ نه وايي، هغه نامزاد دی، نو پليزز ما ته مسيج مه کوه!! ورته مې وليکل
- پوهېږې! ما ته ليدلې يې، سمه پسته او نرمه يې، افففف نو! سخته مې خوښه يې، راځه له ما سره يارانه وکه، چې ژوند درته جوړ کړم، هغه بې چاره سره دي څه! ما سره کور، موټر، پيسه هر څه شته او بله دا که د يوې ورځې خرچه مې منصور ته ورکم نو بسته مياشت يې بس ده! بېرته يې راته وليکل
- پست انسانه! ته په کومو سترګو منصور ته ملګری وايې، ته پوهېږې! ماته د منصور پاک زړه او معصومه څېره ستا له هر څه زيات ارزښت لري او پاتې شوه د خرچې خبره! نو زما د نيمې ورځې خرچه که تا ته درکم، نو ټوله مياشت دې بس ده، پوه شوې!؟

نور مې ورته مسيج ونه کړ! فکر مې وکړ، چې ښايي زما پدې کار ماسره د جسمين خواخوږي ډېره شي او يو ځل بيا به راسره د پخوا په څېر مينه وکړي، شيبه وروسته يې زما خپل نمبر ته مسيج وکړ، بې له مقدمې يې ليکلي وو:

- آصف پېژنې؟ ومې ويل
- هو زما ملګری او هم صنفی دی
- منننه! تا زما راز ښه پټ ساتلی وو، تا آصف ته زمونږ په باره کې هرڅه وئيلي. ومې ليکل
- ما هېڅ چا ته هم زمونږ په باره کې نه دي ويلي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو آصف پیریانو خبر کړ! هره خبره چې زما او ستا تر منځ شوې، هغې ته پته ده او زما نمبر هغه سره له کومه شو؟ ورته مې ولیکل:
- هغه زما ملګرى دى، او هغه هېڅکله ماته دروغ نشي ويلاى
- ښه نو مطلب دا چې زه دروغ وایم!
- نه ته دروغ نه وایې! زه یې معلومات کوم، که همداسې وي، نو زه به د آصف سره ګورم، مسیج راغى
- د خلکو سره کتل پرېده! داسې وکړه چې همدا اوس زما نمبر ډیلیټ که، ځنګه چې ته پست او بې غیرته یې همدغسې دې ملګري هم دي، ماته نور نه مسیج وکړې او نه زنګ باى!

مسلسل مې ورته زنګونه ووهل، خو نمبر یې بند راتلو، په دا شپه مې تر سهاره هېڅ خوب ونه کړ، سهار وختي چې له خوبه پاڅېدم د هرڅه د مخه مې د جسمین نمبر ته زنګ وکړ، خو بیا یې هم بند ښودلو.

د یوې لنډې رخصتۍ وروسته د پنځم سمستر د پیل لمړى ورځ وه، پوهنتون ته لاړم، ټوله ورځ مې د درس په ځاى ساعت په ساعت د جسیمن نمبر ته زنګ واهه، خو بند و، حیران وم چې څه وکړم؟ داسې احساس مې کاوه، ګوندي کوم غټ شى را نه ورک وي. څو ورځې همداسې تېرې شوې، بله ورځ مې نمبرې اړول را اړول، په موبایل کې مې د جسمین د پلار نمبر چې یوه ورځ یې را ته پرې زنګ وهلى وو، پام شو، لومړى خو مې زړه وکړو چې راشه زنګ ور ووهه، بیا مې فکر وکړ چې که زنګ ور ووهم، نو څه ورته ووایم؟ یو بل فکر پیدا شو، په کورس کې زمونږ یوه بله صنفۍ وه، مرضیه نومېده، په مسیج کې مې ولیکل

- سلام کاکا! زه د جسمین د کورس صنفۍ مرضیه یم! د جسمین نمبر دا څو ورځې کېږي کار نه کوي، ورته ووایه چې زما دې نمبر ته زنګ ووهي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د جسمین د پلار نمبر ته مې ولېږلو. مازیگر مهال وو، چې په یوه نا اشنا نمبر زنګ راغی اوکی مې کړ

- بلی! سلام! له هغې خوا غږ راغی، جسمین وه!
- تا ولې زما د پلار نمبر ته مسیج وکړ ها!؟ بې غیرته پدې کار دې! آینده کې مسیج ونه کړې! که ودې کړو نو خیر به دې نه وي او ها زه نمبر نه لرم، دا نمبر د بل چا دی، چې زنګ ورته ونه وهې! بای.

موبایل یې قطع کړ، جسمین که هر څومره راته بد رد ویل! بد را باندې نه لګېدل، زه پوهېدم که دهغې پر ځای هر څوک وای، همداسې یې کول! زه د همدې قابل ووم، پرلپسې مې ورسره ډرامې کولې. دا نمبر مې هم له ځانه سره ثبت کړ. ما داسې فکر وکړ، نمبر د جسمین دی او ما ته یې ددې لپاره چې زنګ ور ونه وهم، دروغ وویل، ما هم تر دوه هفتو هېڅ زنګ ونه وهلو، زړه مې نه کېده، یوه ورځ د ملګرو سره په چکر وتی ووم، په ښار کې مې هو بهو لکه د جسمین نجلی ولیده! په هم هغه وروستي نمبر چې زنګ یې پرې را وهلی وو مې ورته زنګ وکړ، خو بند وو، لږ وروسته مې بیا زنګ وکړ، خو دا ځل یې مصروف وښودو، ګومان مې وکړ چې زما نمبر یې په تور لست کې اچولی، نو له یو ملګري مې د هغې موبایل واخست، نمبر مې ډایل کړ، خو پدې نمبر یې هم مصروف وښود، پوه شوم، چې حتماً په موبایل یې reject unknown call on کړی یا په عامه اصطلاح یو طرفه کړی یې وو، له خپل نمبر نه مې ورته مسیج وکړ

- سلام! بازار کې څه کوې؟

تر ډېره په تمه وم، خو جواب یې رانغی، بله ورځ مې بیا ورته مسیج وکړ، ماښام ناوخته وو، کور کې ناست ووم چې په هم هغه نمبر زنګ راغی، په کوم مې چې په وروستي ځل د جسمین سره خبرې کړې وې، اوکی مې کړ: هلک وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بلی اوري!؟
- هو مهرباني!
- منصور يې؟
- هو منصور يم، ولې؟
- ګوره دې نمبر ته مسیجې مه کوه، ما ته جسمین وویل چې دا مې د کورس صنفی دی، ما ته مسیجې او زنګونه کوي او په عذابوي مې، ما چې څه وینا ته خوله جووړوله، خبرې يې په خوله کې را وچې کړې، آینده کې دې نمبر ته زنګ ونه کې، کنه نو له ځمکې وي او که له اسمانه پیدا کوم دې او حساب درسره کوم، پوه شوې د خدای په امان!

موبایل يې قطع کړ، خدای شته د جسمین دې کار سخت زور راکړ، خو ځان مې بیا هم ملامته کړ، ځکه دا هرڅه زما د دروغو نتیجه وه، پرې پښېمانه هم ووم، خو پښېمانۍ هېڅ ګټه نه کوله، د ژوند لوبه کې مې یو بل داو هم بایللی وو، که څه هم دا داو ما ګټلی شو، خو زما د یو غلط قدم له امله هر څه ختم شو! هر څه... له موبایله مې د جسمین نمبرې چې تر اوسه مې په دغه تمه ساتلې وې، ښایي کومه ورځ یې واپس فعال کړي او زه ورته زنګ ووهم، د پلار نمبر يې او دا اوسنی نمبر، ټول مې ډیلیټ کړل او له ځانه سره مې وعده وکړه، چې له دې وروسته به په ژوند کې هم له جسمین سره اړیکه ونه پالم او که په غلطه کې ورسره مخ هم شم نو لکه د شاعر خبره

داسې به تېر شم لکه ما چې پېژندلی نه يې!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ تر بلې عادي کېدم، سهار به پوهنتون ته تلم، ماسپښين به کورس ته، پاتې وخت به مې په مزدورۍ کې تېراوه، يوه ورځ راته پروېز په ټوکه کې وويل:

- منصوره! ځان وخوځوه له خيره، چې کوژده درته وکړو! په موسکا مې ور غبرگه کړه.
- بچيش! پرېږده چې د مجردۍ د ژوند نه خوند واخلو چې کوژده او واده مو وکړ، نو دا مزې به بيا نه وي.

په همدې شپه مې راته مور هم څو ځل د کوژدې خبره تکرار کړه، حيران وم چې نن څنگه دا خلک د کوژدې لپاره ټينگار کوي!؟ مور ته مې وويل.

- مورې پوهنتون مې خلاص شي، يو ښه ځای کې وظيفه واخلم، بيا به له خيره کوژده هم وکم او واده هم.
- سمه ده! څنگه چې ستا خوښه وي.

دشپې راته خوب نه راتلو، ويښ وم، له ځانه سره مې فکر کاوه چې ما هم عجيبه ژوند وکړ او لا يې هم کوم، ما شومتوب، زلميتوب، مينه، ناکامي، بيا مينه، د مينې بايلل....... له ځانه مې وپوښتل:

که چرته خدای پاک له دې ټولو پړاوونو يو پړاو درکول غواړي، نو ته به کوم پړاو او دور خوښ کړې، اکثره خلک خو چې کيني، نو له خدايه ماشومتوب غواړي، نو ته به څه غواړې؟ بېرته مې د ځان په ځواب کې وويل؛ زه به د هغه شېبو تکرار له خدايه وغواړم چې مې پکې د پلوشې سره د مينې سپېڅلې اړيکه پاللې، زه به د هغه شېبو تکرار له خدايه وغواړم، په کومو کې مې چې د پلوشې سترگو ته کتلي، زه به د هغه شېبو تکرار له خدايه وغواړم، په کومو کې مې چې د پلوشې د مينې په نوم اوښکې تويې کړي، زه به د هغه شېبو تکرار له خدايه وغواړم! په کومو کې مې چې پلوشه له خدايه غوښتې، زه به د هغه شېبو تکرار له خدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغواړم! په کومو کې چې زه پلوشې له خدایه غوښتی یم او بلاخره زه به د هغه شېبو تکرار له خدایه وغواړم چې پلوشې زه او ما پلوشه یاده کړې.

دشپې ناوخته وو، ساعت ته مې وکتل، دولس نیمې بجې وې، پاڅېدم، اودس مې وکړ، لمونځ مې وکړ، دعا ته مې لاسونه لپه کړل، له سترګو مې ښې ډېرې اوښکې وڅڅولې او ومې ویل: خدایه! ته هغه ذات یې چې اور دې ابراهیم؏ ته ګلِ ګلزار کړ؛ ته هغه ذات یې چې د کب په ګېډه کې دې یونس؏ تر لسګونو ورځو ژوندی وساته؛ ته هغه ذات یې چې اسماعیل ؏ دې د چړې د خولې نه ژوندی وویست: ته هغه ذات یې چې ماشوم یوسف؏ دې په کوهي کې ژوندی وساته، خدایه! یواځینی ذات ته یې چې هر ناممکن ممکن کولای شې، خدایه! د دنیا د هر نعمت نه مخکې راته پلوشه راکه او بیا نور نعمتونه!

یوه شیبه همداسې په جای نماز ناست ووم، خوب مې راغی، جای نماز مې قات کړ، یوې خواته مې کېښود او په خپل ځای وغځېدم.

سهار ناوخته لمونځ قضا له خوبه پاڅېدم؛ چای مې وڅښلو؛ پوهنتون ته لاړم، د پوهنتون له رخصتېدو وروسته مې په رکشه کې یو څه فرق وو، مستري ته مې اودروله، نزدې ماسپښین وو چې کار پکې خلاص شو، کور ته لاړم، له ډوډی خوړلو وروسته مې رکشه وویسته، همسایه ګانو کره مو یوه ډله میلمانه راغلي وو، هغوي غوښتل چې لاړشي کور ته، کور یې په کونړ کې وو، له ما یې وغوښتل چې د کونړ تر هډې یې ورسوم، ما هم ورسره ومنله، هغوي مې رکشه کې کېنول، په مخابراتو چوک کې ووم چې یو ناڅاپه د یوې درنې چاودنې غږ شو، ټول ښار کې یو ډول شور جوړ شو، خلکو وارخطا وارخطا یو او بل منډې جوړې کړې، د دنګو پلازو له شا لوګي پورته شول، په څو شېبو کې د ښار فضا د امبولانسو او رینجرو اوازونو ونیوله، د بهسودو پل ته نا رسیده را څخه یو سپین ټوډي موټر مخکې شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وینو او غوښو قطرو سپینه ټوټې داسې پوښلې وه، لکه ګلفوش موټر چې په ګلانو وپوښل شي، ناسته سوارلۍ مې د کونړ تر هډې ورسوله، له هغې خوا په واپسۍ کې مې په لاره لاره د خلکو له خولې اورېدل، چې وئیل یې، چاودنه د حج اوقافو په رئیس شوې او تر اوسه د مړو او ژوندیو څه پته نه لګي، موبایل ته مې زنګ راغی، مور مې وه، وارخطا یې وویل.

- شکر چې ښه یې، غږ مې واورېد؛ نو سودا مې شوه، چرته یې زر کور ته راشه! کور ته لاړم، د مور مې او وړمې رنګ لا اوس هم ځای ته نه وو راغلی، مور مې له سره دپنځوسو افغانیو لوټ تاو کړ او همسایه ماشوم ته یې ورکړ، تلویزون مې چالان کړ، په خبرونو کې یې وئیل چې چاودنه کې د حج اوقافو رئیس او دوه کسه نور وژل شوي، تلویزون مې بند کړ، په کراره مې وویل: خدایه ته پدې وطن ورحمېږې، مور مې موبایل راوړ، منصوره ته واخله موبایل ته دې زنګ دی، اوکی مې کړ، کمال وو.
- سلام! کماله ښه یې! کمال بې له دې چې د سلام جواب راکړي، وویل
- منصوره! شاکر شهید شو، په حیرانۍ مې وپوښتل
- څه! شاکر!!!... جنازه یې څه وخت ده؟
- مازیګر پنځه بجې! ځان ورته را ورسوئ! مور ته مې وویل، زر زر ځان تیاروه، چې ځو کلي ته! دغسې واقعه شوې ده، مور مې ددې خبر په اورېدو ډېر زیات وځورېده او یوه شېبه یې ښه ډېر و هم ژړل، خدای شته زما زړه هم ډک شو او غریو نیولی شوم.

څلور نیمې بجې وې؛ ګڼه ګوڼه جوړه وه، د کلي د لویې هدیرې څخه یوه ډله ځوانان بېلچې او کولنګونه په اوږه را روان وو، د کلي ملک ترې وپوښتل:

- هلکه قبر مو برابر کړ؟ مټور ځوان ځواب ورکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ملک صیب برابر دی.

بېلچه يې له اوږې ښکته کړه، ماشوم ته يې غږ وکړ، ته راشه دا ونيسه، چې زه اودس تازه کړم. ډله ډله خلک جنازې ته را روان وو، د جنازې له لمانځه وروسته مو مړی تر قبره ورسولو، ډېری ډېری خاوره مو پرې انبار کړه، هغه مو هم هلته پرېښود او ټول ترېنه د خپلو کورونو په لور وخوځېدو، تره مې، کمال، د شاکر پلار ټول ډېر زيات خفه وو، د دوي د خفگان په ليدو خدای شته ما ته هم سمه ژړا راغله، خو بيا مې ځان کنټرول کړ او هغوي ته مې هم حوصله ورکول پيل کړل. د تره کور کې مې د وير او ژړا غږونه لا هم وو، کور ته له رسېدو وروسته، له هرڅه د مخه مو د کمال دوي دېره د فاتحې لپاره جوړه کړه، خلک را تلل او تلل، تر ناوخته دې لړی دوام درلود، له لرې ځايونو څخه د راغلو ميلمنو لپاره مو د ډوډی بندوبس کړی وو، له ډوډی خوړلو وروسته مو په حجره کې د ميلمنو لپاره د خوب ځايونه جوړ کړل، زه، کمال، تره مې او د کمال ماما په کور کې دننه د کمال په خونه کې ويده شو، خوب چرته و، خو بس تر سهاره مو شپه سبا کړه، سهار وختي ملا اذان پاڅېدو، په حوېلی کې ډېرې ښځې ښکته پورته کېدې، چا چای کاوه، چا لوټه په لاس چهار اندام کاوه، مونږ د لمانځه لپاره جومات ته لاړو، له لمانځه وروسته مو سيپارې واخستې، د شاکر په قبر مو تلاوتونه وکړل او ثوابونه مو د هغه روح ته وبخښل، زمونږ نه وروسته سيپارې په لاس د ښځو ډله راغله، پلوشه هم وه، سترگې يې له ژړا سرې وې، د شاکر د قبر په خوا کې يې دخپلې مور په زنگانه سر اېښی وو او ژړل يې، له سبق او دعا وروسته په کرار کرار ټولې د کور په لور وخوځېدې.

د دريمې له خيرات وروسته، خلک ټول خپلو کورونو ته د تگ په نيت رخصت شول، مونږ هم رخصت واخست، غرمه مهال د ښار په موټر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناستو، دا چې په لاره یو څه رش وو، نو لږ په ځنډ کور ته ورسېدو، ماښام نږدې و چې پروېز زنګ و کړ، اوکی مې کړ؟

- بلی! پروېزه ښه یې؟
- هو، منصوره! ته ښه یې؟ صحت دې ښه دی، د کلي نه راغلي یاستئ؟
- هو راغلي یو!
- ښه سمه ده، لږ کار مې وو درسره! ته راشه کنه بهر را ووځه! بهر ووتم، پروېز ولاړ وو، له سترې مشي وروسته یې راته وویل:
- منصوره! که خیر وي، نو له رکشې مې خلاص کړې! په حیرانۍ مې وپوښتل
- هغه څنګه؟
- بس له خیره ته به یو کار وکړې، چې پوهنتون ته به لاړشې، ځان به د ورځني کلاس نه شپني کلاس ته تبدیل کړې، زمونږ د بانک منیجر زما ملګری دی، هغه سره مې ستا په اړه خبره کړې، خالي بست مو اعلان کړی، امتحان به له خیره ورکړې، د انټروي لپاره دې مرکزي څانګې ته غواړي، مشکل نشته، مدیر صیب درسره همکاري کوي، انشا الله چې ته به هم زمونږ همکار شې.

رښتیا هم همداسې وشول، د مدیر په همکارۍ په ازموینه کې بریالی شوم، له ازموینې وروسته کابل کې، په مرکزي څانګه کې یې را څخه انټروي واخسته، د څو ورځو له ټریننګ وروسته ما هم په بانک کې د صراف په توګه دنده پیل کړه، رکشه مې په یوه بارګین کې د خرڅ لپاره ودروله، څو ورځو کې هغه هم خرڅه شوه، پیسې مې خپل اکاونټ ته جمع کړې، ورځ تر بلې مې وضعیت ښه کېده، د ژوند په خوند ایله پوه شوم، سهار به پاک کالي او غوړ کاکل له کوره ووتم، په بانک کې به مې دریشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، څلور بجې به چې له کاره ووتم، سیده به پوهنتون ته لاړم او له هغه ځایه به کور ته تلم.

د شبږم سمستر فاینل امتحانونه وو، سخت په عذاب ځکه ووم چې د شپې به مې درس وئیلو، سهار به وظیفې ته تلم او له وظیفې وروسته به پوهنتون ته. وروستۍ ازموینه مو وه، له ازموینې وروسته ملګرو یو بل ته څلورم ټولګي ته د تګ مبارکیانې ورکولې، زما په شمول ټول ډېر زیات خوشحاله وو، د ماسخوتن ډوډۍ مو په شریکه د یو ملګري په حجره کې وخوړه او له هغه ځایه هر څوک د خپل کور په لور وخوځېد.

* * *

دا چې یو څه ستړی ووم، کتاب مې یوې خوا ته کېښود، مور مې د تره د ښځې سره خبرې کولې، د خبرو منځ منځ کې به یې یو سوړ اسوېلی وکړ، له مور وروسته مې موبایل وړې خور واخست، د تره ښځې سره یې خبرې وکړې، بیا یې ورته وویل چې پلوشې باجي ته ورکړه، وړمه له کوټې بهر ووته، مور مې په خوا کې کېناسته، ومې پوښتل

- مورې څه خبره ده، خېر خو به وي؟
- خېر چرته دی، پلوشې بې چاره ته مې زړه خفه دی، خسر یې د شاکر ورور ته ودول غواړي، خو هغه هلک خوښه نه کوي، آه بې چاره ګی! زړه کې مې ناڅاپه یوه ډېره عجیبه خبره وګرځېده.
- مورې! پلوشه ما ته وغواړه، پدې خبره مې مور ډېره زیاته حیرانه شوه، لومړی خو یې فکر وکړ چې زه ورسره ټوکې کوم، خو وروسته چې پوهه شوه زه جدي یم، نو سوړ اسوېلی یې وکړ.
- پلوشه د هغوي کونډه ده، هغوي به یې راسره چرته ومني، ومې ویل مورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چې د شاکر ورور يې نه کوي، نو هغې ته يې خو په زوره ډولی کې نشي کېنولی، خېر ده يوځل مې د تره سره خبرې وکړه چې هغه څه وايي؟

مور مې راسره ومنله، سهار مې د کمال نمبر ته زنګ وواهه، مور مې د پلوشې مور ته ددې خبرې يادونه وکړه، هغه پدې خبره ډېره زياته خوشحاله شوه، تره مې هم رضايت وښوده، خو ويل يې چې يو ځل به د پلوشې د خسر سره پدې هکله مشوره وکړم، ځکه چې د پلوشې په اړه د پرېکړې حق له ما هم زيات د پلوشې د خسر دی. په سبا ورځ مې تره زنګ وکړ، مور ته مې موبايل ډبل اوکی کړ، څو زه يې هم خبرې واورم. تره مې له سلام او لنډو خبرو اترو وروسته وويل

- ورېندارې ما خو د پلوشې د ماما سره خبره شريکه کړه، هغه ډېر زيات خوشحاله شو او ويل يې چې منصور هم زما د ځوې په شان دی، بس څنګه چې ستاسو خوښه هم هغسې وکړئ.

وزرې نه وې، چې الوتی وای! دومره خوشحاله ووم، په منځ حويلۍ کې ورته ښه تاو را تاو شوم، مور مې زما په ليدو دومره وخندل چې ځای په ځای کېناسته، له خندا شنه وه، ويې ويل

- بس که نو! خدای دې انصاف روزي که، زه خو دې له خندا مړه کړم!

بس له خېره سبا ورځو، تره دې ويل، چې د کوژدې مراسم به ساده شان ترسره کړو او واده سره به بيا ګورو، ما ټينګار کاوه چې کوژده به هم ښه په ډنګ ډونګ کوو او واده هم، خو مور مې وويل چې د شاکر ډېر وخت نه دی شوی، خېر دی، کوژده به لږه په ارامه وکړو، واده کې ستا خوښه. ومې ويل سمه ده مورې!

په سبا مې له بانکه دوه ورځې رخصت واخست، پروېز هم زما په خاطر رخصت وکړ او د پروېز په موټر کې ټول يوځای کلي ته لاړو، د کوژدې مراسم مو د خپل د کلي په کور کې ترسره کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مراسمو وروسته پروېز دوي او نور ټول میلمانه لاړل، مونږ د شپې د تره کره لاړو، شپه مو هلته وه! تره مې ویل:

- بس چې هر وخت مو خوښه وي، واده وکړئ، خو ما بیا وویل:
- دا څو میاشتې دي، له خیره له پوهنتونه فارغېږم، بس چې فارغ شوم، نو هر څه به وشي.

تره مې هم په همدې خبره راسره خوښه وکړه، په سبا سهار له چای څښلو وروسته، مې خاله دوي احوال راولېږه چې ډوډۍ مې درته کړې، د غرمې هلته وو، د شپې لپاره د شبیر په ډېر ټینگار د شبیر دوي کره لاړو، شپه مو هلته وکړه، سهار وختي مو له هغوي خدای په اماني واخسته او د ښار په لور وخوځېدو. مور دوي مې کور ته ورسول او زه خپلې وظېفې ته لاړم، په بانک کې مې ټولو همکارانو د شیرینۍ غوښتنه کوله، د ماښام ډوډۍ لپاره مې ټول دعوت کړل، دا چې مونږ حجره نه لرله، نو د پروېز دوي حجره کې سره را ټول شو، له ډوډۍ وروسته تر ناوخته مو ښې ډېرې غورې وکړې او نا وخته د شپې ټول د خپلو کورونو په لور وخوځېدل.

* * *

ما مې د ژوند د دوه ډېرو لویو خوښیو راتگ ته شېبې شمارلې، د پوهنتون فراغت او د پلوشې وصل. دا د هر چا ارمان وي چې له پوهنتونه فارغ شي او له فراغت وروسته یې د هغه چا وصال نصیب شي چې د خپل لالي د فراغت لپاره یې په زیارتونو جنډې او نذراني منلي وي.

د ځینو خو د پوهنتون فراغت په نصیب شي، خو چا یې چې په خاطر لوپټه په زیارت غوړلې وي په نصیب نشي. ځیني بیا زما په شان په بخت ډېر زورور وي او خدای وربانديې خپل خاص رحم کړی وي، له پوهنتونه هم فارغ شي او هغه یې هم په نصیب شي چې ورته په تمه وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار تمام شو، هغه ورځ هم راغله، چې د فراغت غونډې لپاره یې په پوهنتون کې له مونږ څخه پیسې ټولې کړې، یکشنبې ورځ د ښار په یوه عصري هوټل کې د فراغت غونډې د ترسره کېدو تصمیم ونیول شو، ما مې هم ملګري او خپلوان د یکشنبې په ورځ، فراغت غونډې ته د راتګ په موخه را وبلل، یو شمېر نزدې خپلوان مو د یکشنبې له شپې راغلي وو، د یکشنبې په سهار، وختي له خوبه پاڅېدم، شبیر، زه، کمال او پرویز څلور واړه لاړو، سقاوه مو وکړه، ما مې د فراغت لپاره کړي، سپین کالي او تور واسکټ واغوستل په منډه مو یو ګوټ چای وڅښلو او د پروېز په ګلپوش کړي ټوډي موټر کې د هوټل په لور وخوځېدو، تره دوي مې او یو شمېر نور کلیوال په یوه بل موټر کې په مونږ پسې راغلل.

ګل غاړې، ګلِ پاشان زر ورق یو خوندوره فضا د هوټل مخې ته دالان کې جوړه وه، چا تصویران ویستل، څوک یو بل ته غاړې وتل او مبارکیانې یې ورکولې....

زمونږ د یو ملګري پلار چې ما څارلو، خپل ځوې ته غاړې وتلو، ښکل یې کړ، په سترګو کې یې دخوښۍ اوښکې وځلېدې، د خپلو اوښکو د پټولو په نیت یې سترګې واړولې او غلې شان یې په سپین ګل کړي رومال پاکې کړې.

تره مې دومره ونازولم، چې د پلار د نشتون هېڅ احساس یې رانکړ، کور ته په رسېدو مې مور بې واره څو څو ځل په سر ښکل کړم، د کلي نه راغلو ترور ګانو مې په سر د چاکلېټو او چارمغزو باران وکړ، چې ورړو ماشومانو یې د نیولو لپاره یو ټیل ما ټیل جوړ کړل او زمونږ په پښو کې سم ورغړېدل.

خاله مې چې زما له موره مشره وه، داریا راوخسته او یو ښه مست سیل یې وکړ، غرمه مهال له ډوډی خوړلو وروسته مو خپل خپلوان وار په وار یو یو رخصت شول او د خپلو کورونو په لور لاړل. تره دوي سره مې د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښې په وخت کې مور تره ته وویل چې له خېره څهار شنبې ورځ نېټې اېښودلو لپاره راځو، تره مې په خندا ورغبرګه کړه: په خير راشئ ستاسو خپل ځای او خپله لور ده.

د څهار شنبې ورځ وه، سهار مهال کلي ته لاړو، د تره دوي سره مو د واده نېټه د بلې مياشتې اول تاريخ کېښوده او له هغه ځايه د راتګ وروسته مو د واده لپاره تيارياني شروع کړې، کور مو چونه کړ، سودا ګانې مو واخستې، جامې مو وکړلې، کارتونه... خو بس واده وو، نو! دا هرڅه په يواځې ځان زما له وسې پوره نه وو، نو شبير، پروېز او کمال درې واړه بې چاره ګان مې ښه ډېر په عذاب کړل.

د پنج شنبې ورځ وه، سهار وختي مې کمال ته هغه څه چې په کلي کې ضرورت وو، واخستل او ومې لېږل، چې په دې کار مې تره په تليفون کې ښه ډېر ورټلم.

* * *

د ډوډی د مراسمو له خلاصېدو وروسته د ډولی راوړلو په نيت د خپل کلي په لور وخوځېدو، په لاره پروېز خپله هم ډېر احتياط کاوه او نورو هلکانو ته يې هم هر ساعت تاکيد کاوه چې احتياط کوئ، ډېر په طبيعت او حوصله کلي ته ورسېدو، دېره جوړه وه، کليوال او ځيني د جينۍ له طرفه خپلوان مو ناست وول، له سترې مشي او روغبړ وروسته ټول په کټونو کې کېناستل، ملا صيب نکاح وتړله، له نکاح وروسته کمال له لاسه ونيولم، کور ته يې ننويستم، د ښځو يو هَله ګوله جوړه وه، چا پيسې شېندلې؛ چا چاکلېټ، څو جينکۍ په مخامخ برنډه کې زمونږ په ننداره ولاړې وې، زه او پلوشه يې په کټ کې کېنولو د تخت شانۍ د مراسمو له ترسره کېدو وروسته، ګلفوش موټر حوېلۍ ته راننوت، پلوشه چې سلګۍ يې وهلې له لاسه مې ونيوله او د موټر په دوهم سيټ کې مې د مور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترور تر منځ کېنوله، زه په مخکې سېټ کې کېناستم، پروېز موټر ته کېناست، موټر یې له کوره وویست، په کرار روان شو، ما د موټر په ځنګ شیشه کې تره ته کتل چې د خپل کور مخکې ولاړ و او همداسې یې زمونږ موټر ته کتل، د کوڅې د آخر سر په ګولایي کې موټر تاوو شو، پوخ سرک ته وختو، پروېز زما سترګو ته وکتل، ټیپ ته یې لاس وغزو او په ټیپ کې د لګېدلې سندرې غږ یې لوړ کړ.

**نری یې پاڼې، شا لیلا ونه د بادام**

**مزه کوینه**

**شا لیلا ونه د بادام**

پای

21/4/2020

د چهار شنبې شپه 10:40

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**